شفق

SHAFAQ

Vol. 3 No. 9 1986

جلد سوم شماره ۹ - حمل ۱۳۶۵

احمد شاه ((وحدت))

Ahmad Shah (Vahdat) P.O.

بسم الله الرحمن الرحیم

فرمان خدا

ساصرف عن ایتی الذین یتکبرون فی الارض بغیر الحق : وان یروا کل آیة لا یؤمنوا بها وان یروا سبیل الرشد لا یتخذوه سبیلا وان یروسبیل الغی یتخذوه سبیلا ، ذلک بانهم کذبوا بایتنا وکانوا عنها غفلین .

(الاعراف : ۱۴۶)

ترجمه : زود است که از نشانه های قدرت خود کسانی را روگردان کنم که بدون حق در روی زمین کبر پیشه میکنند :

و اگر هرنشانه‌یی را ببینند به آن ایمان نمی‌آرند و اگر راه رشد و هدایت را بینند آن را بحیث طریقه وسلوک انتخاب نمیکنند و اگر راه سرکشی وگمراهی را دیدند ، آن را اختیار میکنند ؛ این بـه آن سبب که ایشان آیات ما را دروغ پنداشتند و ایشان از آنها غافل بودند .

احمد شاه ((وحدت))
Ahmad Shah (Vahdat)
A. K. P. O.

شفق

مسؤول مدیر . . . محمد معروف «فروغگر»
مرستیال . . . .
لیکوال غړی :
۱ - محمد زبیر «شفیقی» . . . . . .
ارکان نشراتی حزب اسلامی افغانستان ۲ - ذبیح الله «قریشی» . . . . . .
کمیسیون ارشاد فرهنگ ۳ - محمد رحیم «خنجر» . . . . .

جلد سوم | شماره نهم | حمل ۱۳۶۵

PROPERTY OF ACKU
مسلسل ـ ۳۰

د دی گڼی مطالب :

۱ـ ژغورونده نهضت ...
۲ـ پیغام شفق ....
۳ـ د خاطرو نهضت .....
٤ـ سیاسی تبصره ...
٥ـ در بهار آواره‌گان ....
٦ـ بازتاب تعهد و هدفمندی ....
۷ـ د یوه مجاهد او مبارز مسلمان .
۸ـ رهائی روان تاریخ...
۹ـ د ترکیی سفرنامه ....
۱۰ - بنیادی عیبونه او د هغی اصلاح
۱۱ - ترینتینی اتلان
۱۲ـ د اسلامی نړی پراخ شتون ...
۱۳ـ بررسی یی پیرامون مسأله...
۱٤ـ پایه های اخلاقی نهضت . . .
۱٥ـ مروری برجنگهای صلیبی ...
۱٦ـ روسها از اسلام ...
۱۷ـ سنگر او اتلان . . .

ژغورنده نهضت

هغه وخت چی د «پانی پت»او «سومنات» سومنو په تاتوبی نړیوالواستکباری ځواکونو د حرص او تمی سترگی خښی کړی وی،... همه شیبی چی د شیطان ټولی د شیطان په قوماندہ د خدای(ج) د بنده‌گانو په‌بی‌لاری ټولنو کی خپلی ټولی وسیلی پـه کار اچولی وی ... او هغه وخت چی نړیـوال کـفـر د سید جمال الدین وطنوال د دغه ستر میره له فکر ، عقیدی، مبارزاتی کړنښی او تگلوری نه د پردی کولو په هڅو اوهاند لگیاؤ ...

هغه لحظی چی د شرافت او نجابت، سولی او امنیت، مینی او محبت ، برابری اوعدالت کوتری دابلیسانو د مکاراله دسیسوپه‌جالونو کی یـوی او بلی خـوا تـه په حسرت سترگی غړولی ... او هغه وخت چی زموږ د مسلمان ملت د عقیدی او وطن بریدونـه د یحیی د بی بصیرته او شـرابی اولادی د ناروا او غیر اسلامی سیاست پـه وجـه ، د نړیوال استکبار ترسخت گواښ لاندی راغلی وو... د نړیوالو ډاکه مارانو د اتکل او انگیـرنی پرخلاف د کابل له گوگل څخه یو بل غـږ او چت شو ، چی ورسره سم د افغان مؤمن ولس پرخلیک هم بدل او د پردو او پـردو پالو پرخلاف راواوښت ...، دغـه رسا آواز اوارواپالونکی زوږ ، د الهی قانون د قـوام او قیام لپاره د یـوه سـتر داعـی «عبدالرحیم نیازی» پـه مشری د یـوی کـوچـنی ډلگی ملکـوتی نــاره وه چـی د خـوب وړی ملت دراوینښیدلو او الهی حرکت د پیـل لپاره‌یی د کابل په پوهنتون کی پورته کړه . . .

هو ! همـی خو په اول کی ډیرو د پسخند په دود وررپوری وخندل ، خـو د ایمان او هدفـــــــه دغه کـوچنی قافله د ظلمونـو او ستمونو په اغزنه جاده د منزل مقصودپه لوری، پښی لوڅی روانه شوه ، او خپل‌منزل ته‌یی دوام ورکړ .

هیڅا هم دا تصور نـه شو کـولای چـی دغه کوچنی ډلگۍ به د وخت د فـارس او

پاتی په (۹) مخ کی

«جریر»

پیغامِ شفق

رشک بهاران سبز



ای نوبهار ناز

ای گلبن زیبای زندگی !! بازهم با ورود فرخنده فروردین ، موکب رهوار ومشک بیزتو !! از دیار دور! از آن کرانه های سبز !! از سرزمین فرحت و امید و خرمی !! به دشتها و دره های لاله خیز ما !! رهگشوده است !!

آری بهار !

ای صبح شگوفان آرزو !! ای ستاره تابان روزگار !!

بازهم پرستوی سیمین و سبز بال تو !! از سرزمین «شاد» ازمهد دلاویز غنچه ها !! همراه با مشعل سوزان لاله ها !! یکجا با خندهٔ شیرین ارغوان !! برمرزبوم ما براین کویرستان داغ وآتشین !! براین قلزم جوشان خون و اشک !!! پرگشوده است !!

ولی هیهات !!! که در دره های خون فشان ما دیگر جایی برای توو



محمل سبز فام تو نیست !! آخر دیگر قلب های خون چکان ما و نگاه های درد بـار کودکان «منتظر» !! و چشمهای اشک ریز مادران داغدار!! تو را با آنهمه تلالــؤ و زیبایی ات نمی شناسند !!

دیگر برای مرغزار هـای مخملین ما ، تو مرده ای !!

زیرا سالها است که در این خاك تیره روز از گلبانگ شباهنگ نازت و از تلاوش فرحبخش شگوفـه های نورسته ات خبری نیست !!

و سالهـا است که غائله مرگبـار خون و آتش بر کشور مردخیز ما دامن کشیده است !!

و عمرها است که نسیم صباحـی و مشک سای تو بر شاخسارهـای خشکیده میهن ما نمی وزد !!

دیگر ما را بــه بنفشه زارهـای لاجوردینت به دشت های پرگلت ، به اشک هـای گرم آسمان ، که با ورود پرشکوه تو !! از دیــده‌گان کور شب ، سرازیر می شود نیازی نیست ؛

زیرا که سالها است بر کشور ما بهـار دیگری با چهـره ای متفاوت و با ماهیتی متباین با تو سایــه افگنده است :

بهاری کـه گلخن جوشانش رشک گلستان تواست و کویلستان لاله رنگ تو !! در برابرسنگرهای غرقه به خونش سرافگنده گشته است .

بهاری که طلسم پائیز و پائیزیان را شکست وبنیان زمهریری شیاطین قطبی ، و کلاغ های جیره خـوار شانرا متزلزل ساخت !!

بهاری کـه سفینـه درهم شکسته ملت مسلمان ما را که اجـزایش در برابر یورش وحشیانـه کولاک های مصائب و مشکلات ، خورد گشتـه بـود و مـیرفت تا در دل توفـانی اقیانوس بیکران حـوادث و طامات روزگار نابود گـردد بسوی ساحـل

فیاض «آرزو» و کرانه آرام « آزاد زیستن» می کشاند !!

بهاری که از عقب پرده های خون بیزش ، سپیده دم «آزادی» و «فردا های» درخشان و دیرپا می درخشند .

این بهار دلپذیر که سالها است ملت مسلمان و مجاهد ما را درآغوش گرم و نجات بخشش می فشارد هفده سال قبل درچهاردهم فروردین خجسته سال (۱۳۴۸)، در آن روز هایی که مانند همیشه با قافله عطر افشان وگل ریزت بردیار غم اندود ما رحل اقامت افکنده بود از دامان پرفیض وگل خیزت شکفت و با شکفتنش درگوش غافلان جامعه ما پیام «سوختن» ، «ساختن» و «رهگشودن» خواند !!

بهار ما که چون سجاف طلائی صبح از دل فانوس نیم رنگ افق خاوران سرکشید برخلاف خاصه طبیعی تو مشاطه گرکوی و برزن ما نشد !! و به آرامش دره های خرم آباد ما دست نیازید !! بلکه آمده بود تا قلب های ما را به جوهرمصفای ایمان و تعهد صیقل بخشد ، و کوشک های ظلم آباد نظام های جاهلی را در جامعه ستم کشیده ما واژگون سازد !!

و در عوض شان برای برپائی نظام شکوهمند اسلامی که نظام «رستن» و « جاویدانه بودن » است، خالصانه تلاش به خرچ دهد !!

از آنروز به بعد سالها است که این خورشید سعادت و این بهار سبز ، برما می تابد ! و مردم مسلمان ما با ذهاب های پرخروش ، و عطر باروتش عاشقانه محبت می ورزند !

با قدوم پربرکت این بهار !! دیگر لاله های سرخ در گلستان نمی رویند !! دیگر شقایق چراغ دار در باغ و راغ نمی سوزند . دیگر بنفشه های تو در پای سبزه های نوجوان گریبان نمی درند ؛

بلکه در بهارستان فخر آفرین ما لاله های سرخ ، از سینه به خون آغشته گورستان ها می دمند ، و چراغ فروزان شقایق برفرازگور شهیدان ما شعله می کشد، و سالها است که هرسحرگاه بنفشه های مست که دیگر عاشق سنگرهای گلگون ما شده اند ، درسوگ عزیزان شهید ما گریبان ارادت و اخلاص میدرند.

این بهار حیات بخش !! قافله سالاری داشت که از تبار اخیار و از خیل راهیان «نور» به شمار میرفت !!

او استاد عبدالرحیم نیازی بود !! این ناخدای صخره شکن همیشه باقامتی بلند و استوار در پیشاپیش دیگرلشکریان وارسته بهار میتاخت، و به آواز رسا پیام بهار ملت ما را که پیام فلاح و رستگاری بود برای مردمان خزان زده این خاک می خواند و آنها را به سوی بهاران جاوید دعوت می نمود !!

روز ها گذشتند و بالآخره روزی قافله سالار بهار سبز ملت ما ، با عده‌یی از فرزندان صدیق این «بهار» در نبرد با سپاهیان کوردل پائیز جان سپردند .

و اکنون که ما ـ همزمان با بازگشت تو سالروز مبارک طلوع جاویدانه «بهار خویش» را تجلیل می کنیم هنوز هم میان دلباخته گان جانباز «بهار ما» و ایادی سیه کار پائیز شعله های سوزان جنگ زبانه میکشد ، و هر روز جمعی از حامیان دلسوخته «بهارما» در راه پاسداری از ارزش های الهی آن به خاطر به ثمر رسیدن آرمان های ملکوتی اش سرمیدهند !!

و ما که تا هنوز لوای پرعظمت « بهار سبز » بردوش ما سنگینی می کند ، با خدای بزرگ تعهد بسته ایم که مانند دیگر راهیان این «بهار» به خاطر حاکمیت قطعی او و مرگ مستدام پائیز داعیه جهاد الهی خویش را قهرمانانه ادامه دهیم.

بقیه در صفحه (۳۰)

محمد حسن «عرفانیار»

د خاطرو نهضت

تاریخ وربانذی شاهد دی ، چه څومره ویرجنه صحنه وه ، څه عجیب شانی زړه دردونکی حالت ، هلته چه د وخت خپل سرو او بی بندوباره شاهزاده‌ګانو د عیاشی او بی کفایتی له ګریوانه د لادینی او د هریت بلاګانو ویروونکی اوهیبتناك سر را ویوست .

هلته چه د لویدلی او وراسته‌نظام د ناز په بستره کی ښاماران لوبیدل ولی له دین او سیاست سره نا آشنا وا کمنو فکر کاوه چه دغه ښاماران به د شاهی لالونو پرسر پیره ، او د سلطنتی‌فاسد رژیم حمایه اوحفاظت به‌کوی ، دوی هم ملامت نه ؤو . د دوست او دښمن پیژندنی له ارزښتناك بصیرت څخه محروم ؤو هر چا تیرایستلی شوی ، لکه چی تیرایستلی‌ئی وو .

یوازی د خپلوهوسونو په دنیاګی مین ؤ ، نورئی نه ملت پیژاند اونه نړی، نه د اسلام له عدل نه خبروو او نه د شلمی پیړی د وحشی مسلکونوله بربریت، او بی‌انصافیوله.

حقیقت دادی چه اسلام ئی خپلو ناولیو ارمانونو ته د رسیدلو په لارکی لوی خنډ ګڼه ، نو ځکه ئی د اسلام ضد فکر ته په اسلام پال هیواد کی آزادی ورکړه ، چه په لږه موده کی د کابل پوهنتون د فساد ، دهریت اوالحادی بلنی اډه وګرځیده.

د اسلام په انسان جوړوونکو شعایرو په ښکاره لوبی او مسخری پیل شوی ، د حکومت په رسمی دوایرو کی روژه خوړل ، په څنو نشراتی ارګانونو کی د اسلام په سپیځلی دین بی شرمانه تاخت او تاز پیل شو - رشوت خوړل او رشوت ورکول د حکومت سره د مروکار په صورت کی یوه لازمی مسأله وه ، چه خلکو ته د قانونی فقری په حیث مطرح شوه .

د غرب د لنډه غروفاسد اخلاق هم د نورو لیلامونو په سلسله کی راوارد شول، چی له هرڅه نه زیات د ښځو څخه د شرم او حیا جامی وایستل شوی غرض دا چی ملت ورو ورو د پلانیزه شوی پروګرام له مخی د فساد په مرګونی غیږ کی ورلاهوکیده .

خو د خدای (جل‌جلاله) دثابت او دایمی سنت په اساس چی په دغسی تاوجن او لوغړن پړاوکی یو شمیرمخلص بندګان را اوچتوی، ترڅو د خپلو ټولو مادی او معنوی استعدادونو د ټکار اچولو له لاری د فساد مقابله وکړی .

پدی وخت کی هم ارحم‌الراحمین خدای د خپل بی پایانه‌کرم له مخی دګوتو په شمیرمحدودکسان راپورته کړل ترڅو د پریوتی نظام پرغیر اسلامی سیاست او پالیسی انتقاد وکړی ، او خپل مسلمان اولس ته د ریښتینی اسلامی آرمان په لور جهت ورکړی .

چا تصور هم نشوی کولی چه لدی کمو خلکو به داسی ټولی جوړیږی چه د ټول ملت اوبالآخره د نړیوال اسلامی است به هم د امید سترګی د هغوی پرلوری کیږی . ولی دا څه د تعجب خبره نده ، د ایمان او عقیدی په پراخه نړۍ کی بی شمیره داسی واقعی شوی دی . او د یوازی او یکه خلکو پلاس اوچت اوچت کارونه ترسره شوی . په شمیر او وسایلو محاسبه او پریکړه نه کیږی ، په هدف او آرمان دا فیصلی کیدلی شی ، تل د سپیڅلی الهی ارمان او هدف حاملین په ګڼو بی هدفه پرګنو غالب شوی، دهمدی عقیدی په درلودلو سره د کابل پوهنتون په فساد ځپلی زړه کی څو ځوانانو و غوښتل چه باید دا د ظلمتونو او تیارو زړه څیری شی - مظلوم بشریت د فساد لدی خوساړند څخه د انسانی فضیلت اخلاقو او هیرشوی اسلامی تهذیب لور ته راوایستل شی .

خومره نیکمرغه کال اوڅه مبارکی ورځی وی چه زموږ د اسلامی هیواد د مجد او عظمت د احیاء په منظور څو ځوانان پکی را ټول شول .

د ۱۳۴۸ کال لمړی ورځی وی. چه د بیداری جرس د خوب وړیو قافلو د راویښولو په خاطر شور اوزوږ جوړ کړ او د وری د میاشتی

په ۱۴ نیټه د یوه متعهد هدفمند او مهذب انسان استاد عبدالرحیم نیازی (رحمت الله علیه) ترمشری لاندی د یوه عظیم الشانه تحریک د تاداو ډبره د کابل پوهنتون په ساحه کی کیښودل شوه ، دی الهی نهضت په لنډه موده کی وکولی شول چه د شرک ، الحاد ، دهریت او فساد د منفی او غیرانسانی تحریکونو په وړاندی خپل دریځ اعلان او د منطق، استدلال مناظرو او مباحثو له لاری هغوی ته ماتی ورکړی .

چا زغملی شوی؟ دا تند اوطوفانی حرکت ؟ اصلاحی حرکت ، کفر لړزونکی اوطاغوت ماتونکی حرکت؟

له هری خوائی د مخالفت په دود سرونه را اوچت شول ، د الحاد له سنګره د فساد اوفیوډالی له مورچله، د عیاشی او ځان غوښتنی، کمونیزم او بی بندوباری له سنګره پری ګذارونه پیل شول .

د دی ټولو سره سره الهی اصیل نهضت دا اغزنه او له کړاوونو ډکه لار په ایمانی زغم او د سربښندنی په عالیشانه روحیه پلی کړه ، نه ئی د دربار تهدیدونو جهت بدل کړ او نه د ساده مزاجو دوستانو عذرونو څه اثر ورباندی پریوت د کابل له تنګ چاپیریال څخه ئی د ولس خورو ورو پرګنو ته ، کلیو ، بانډو او سردروته لارو ایستله ، هرځای او هرچیری ئی په حکومت کی د روانو ناخوالونه ملت ته آګاهی ورکوله. او هغوی ئی دی الهی خط ته د مقدس آرمان د تعقیب په خاطر رابلل .

الحمد لله زموږ ټول ملت په اسلام مین ؤ ، او یوازی نظم او انسجام ته یی ضرورت درلود ، له همدی کبله ئی د خپل اسلامی نهضت خوا ته پناه یوړه ، او وروستنیو جریاناتو دا په ډاګه کړه چی ملت دتهدیدونو په زور له خپل تحریک نه لیری ساتل کیده ، او د پردی فکرلورته ئی لار آزاده پریښودل شوی وه ، څوک په یاد نلری چه د ظاهر شاه په وراسته او جاهلانه سلطنت کی د کمونیستی یا امپریالیستی فکر

خپرولو په گناه څوک تهدید شوی وی . نه یوازی تهدید نشول بلکی د دربار له هر راز حمائی نه برخه من ؤو .

خو د ځوان اسلامی نهضت د تکولو په لاره کی ټول درباریان سرگردانه ؤو ، ځکه اسلامی نهضت د هغوی د ناولیو گټو د تهدید مورچل ؤ ، سازش او جوړی روغی ئی جرم او د فساد خوا ته د حکومت د لا جرئت پیدا کولو وسیله گڼل ځومره چی د مسلمانو ځوانانو نهضت تکول کیده ، د ماتی شیشی په څیر ئی پارچی لاپسی تیزیدلی او د فساد په خیټه کی خښیدی .

نړیوال استکبارهم ویری واخیست، د لیونی داؤد په ذریعه ئی کودتا وکړه ، (ځکه نور د شاهی نظام له وسه د اسلامی تحریک ځنیوی وتلی وؤ ترڅو د هغه په ذریعه اسلامی تحریک وتکوی، خپل سری او مستبد داؤد هم له هرڅه له لمړی د اسلامی نهضت په تکولو پیل وکړ .

د هغه موسسین ئی په شهادت ورسول اوکڼ شمیرئ، د پنجروترشا لاس تړلی د روس اجیروگوډاگیانو ته وسپارل .

د روسی کړی په غوږ غلامانو هغوی د زرگونونورو مسلمانانو پشان یوځای د څرخی پله د پولیګون په خونړی زړه کی په وینو ولمبول . د څه لپاره ؟! د همغه یوه هدف لپاره ، ترڅو پدی ملک کی د فساد او دهریت بلنی ته په ارامه ادامه ورکړی . ولی اوس به پوه شوی وی چه د هغوی وژنی څه خطرناك انجام ترشا درلود ، هسی خطرناک چه نن ئی ټول کمونیستی بلاک ځنیوی نشی کولی، او ټول ملت ئی د همغو مظلومو سورکفنو شهیدالو په خط کی ودراوه ، او نن په لکونو وسلوال مؤمنان د هغه هدف او آرمان د دفاع په سنگر کی نه خوب پیژنی او نه ستړیا .

هوکی ! څه د یادگارونو اوخاطرو نهضت ؤ دی او انشاء الله چه وی به، نژدی ده چه دمظلوم اوځوریدلی بشریت لپاره د لیکمرغی نړی جوړه او د نړیوال کفر او شرک مانی را چپه کړی ، سوږ د دی نهضت (اولسم) پسرلی ټولی اسلامی نړی ته د زړه له کومی مبارکی وایو ، او له الله نه ئی د استحکام ، ثبات ، اصالت ساتلو او کامل بری‌هیله لرو .

ژغورنده نهضت...

روم له طاغوتی قدرتو سره په سهین دگر دعری ووهی ... او هیچا هم دا په ذهن کی لشو راوستلای چی دا د ایمان په وسله سنبال ځوانان به یو وخت د ظالم او یرغلگر داروګی خوله ورماته کړی او د ټولی اسلامی‌نړی او مظلومو پرگنو د امید اوتسل قبله به شی ،... خو د خدای (ج) غوښتنه همداسی وه چی یوځل بیا د«کم من فئة قلیلة غلبت فئة کثیرة باذن الله» عملی مصداق‌ټول بشریت ته وروښیی ، قافله مخ په وړاندی روانه وه ، د ازمیښت او امتحان دول دول پیچومو او کړلکولوئ یو پربل پسی استقبال کاوه او د ایمان په حکم جوړ ټولگی هم د زمانی د ازمیښت په بټی کی لا آبدیده کیده زلمی نیازی د ډیرو نورو ځنکښالو سره یوځای خپل نیمه خوا ارمانونه گورته ورسره یو وړل ، خو د الهی لښکر لاَرویان مخ په زیاتیدو شول ، د هماغه لومړنی ملکوتی «الله اکبر» ناری سره وخت پروخت نوی نوری چیغی هم ملگری شوی ، د وهلوټکولو او بندی کولو نه خبره ، اعدام ، عامی‌وژنی او ... ته ورسیده د اسلامی نهضت وياړلی مسیر د شهیدانو په وینو او یتیمانو په اوښکو بدرگه شو د تکبیر له ازانکو سره د معصومو یتیمانو کړیکی او د مظلومو شهیدانو د ځنکدن سلگی غبرگی شوی ...

او دا دی نن اولس کاله وروسته !!!

... درست ملت د هغه په شمول چی پرونیی د نهضت شعارونوته په پسخند کتل، د عمدی الهی کاروان ترشا دریدلی او له اتوکالو راسی داوراو وینو په منځ کی د نړی له ستر کفری طاقت «روس» سره د وسله‌وال جهاد و یاړلی بیرغ پراووه لری ... د شفق مجلی اداره ، د مجلی لوستونکو ، د عمدی و یاړلی نهضت سرتیرو او مخلصو ساتونکو، اتل مؤمن او وسله پراووه ملت او د نړی درستو مسلمانانو ته د دغه ستر ژغورنده اسلامی‌نهضت اُولسم پسرلي مبارکی وړاندی کوی اوله خدایه یی پرنړیوال کفر دبرلاسی او بشپړ بریالیتوب غوښتنه کوی .

«والسلام»

«م-ز-ش»

سیاسي تبصره

زموږ د مسلمان ملت

د مبارزاتي هوډ د تسلیمولو توطیه

محمد نذیر «بشارت»

پدې ورځو کې چې له یوې خوا د افغانستان مستضعف ملت د خپل هیواد په‌ګوټ ګوټ کې د بې رحمه جنایتکارو روسانو د خونړیو یرغلونو په وړاندې د خپلې عقیدې ، شرف او ناموس د دفاع په سنګر کې پــه وینو لمبیږي، په خرواریزو بمونوئې کورونه او جولګړې ورانیږي ، په ټول ملک کې‌ئې د هجوم او تاړاک لمبې دي، او هره ورځ‌ئې په لسګونو مؤمن زامن د تالانګر دښمن پــه ګولیـو ټوټوکرټوکر په خـاورو لړل کیږي ، له بل پلوه‌ئې په بین‌المللي مستوی کې د قضیې د سیاسي حل په بڼـه کې د ملیونو شهیدانو پــه وینو سمسور اسلامي انقلاب او تاریخ ساز الهي آرمان پرخلاف یوه ناروا رواني جګړه په تونډۍ سره روانه ده. د افغانستان د قضیې د سیاسي حل پــه نامه د روسانـو بین‌المللي مانـوره له یېله پردې اغراضو مبني ده چې : د خپلووحشیانه اوغوسناکو کړغیړنو پالیسیو او سیاست پرناولې څیره د نرمۍ او سولې غوښتنې پرده را ځوړنـده کړي ، د بشپړې پوځي ماتې په صورت کې د ځان لپـاره د آبرومندانه عقبنشیني لار پرانیستي وساتي ، پاکستان ، ایـران او . . . پدې قضیـه کې د طرف ښودلـو له لارې د افغانسـتان د مسلمان ملت دعقیدتي ـ اجتماعي انقلاب پراصالت، استقلال او حقانیت خـاورې واړولې شي ، په کابل کې د خپلو لا سپوڅو لپاره د خبرو اترو او ناستو ولاړو په بهیر کې بین‌المللي حیثیت ترلاسه کړي او بالآخـره له تودو سنګرونه سړو تالارو ته د قضیې پــه ذهني انتقال زموږ د مجاهدینو او ملت هوډ له روڼې انتشار سره مخامخ کړي او پرتاوده احساس اوګـرم حرکت ئې د دروغجن امید سړي او په وپاشي.

د روسـانـو دا اغـــراض د ژینـــو د خبرو اترو له یېله ترننه په مختلفو بڼوکې مشاهده شوي .

د لمر پــــه څېر څرګنده ده چې د افغانسـتان د رواني قضیې اصلي لامل د افغانستان د مسلمان ملت د اعتقاداتـو او منـل شوو حقوقـو پرخلاف زموږ پرهیـواد د روس له خوا د کمونیزم جابرانه تپل او بربنډ یرغل دی او په وړاندې‌ئې یواځیني طرف هم د افغانستان د مجاهــدینو قیـام او انقلاب دی ؛ خو په ډیـر تأسف‌ګورو چې بې لدې چې دقضیې اصلي ماهیت ، واقعـي اطـراف او پدې قضیه‌کې د افغانستان د مسلمان ملت مسلم حقوق اوبرحقه اوعادلانه موضعګیرې په پام کې ولیول شي ، دسیاسي حل‌پروسه د روس دپورتنیو شومو اغراضو او استکباري ناولیـو اهدافو په لورې روانه ساتل شوې او دپرمختګ په نامه‌ئې خبرې کیږي.

پر افغانستان باندې د روس د هجوم له پيله د ځينو جهتونو او حلقو قضاوت او تحليل پر افغانستان باندې د روس د يرغل د انگيزې اوهدف او په کلي ډول د دې قضيې له بنستيز ماهيت نه د ناسم او کمزوري برداشت له امله د بېځايه اميدوارۍ او خوشبيني ښکار شوي .

پداسې حال کې چې روس له پيله تراوسه د افغانستان د مسلمان ولس د هر ارخيزې تکونې په لار کې له هيڅ راز تشدد ، قساوت او غدارۍ څخه ډډه نه ده کړې خو بياهم کله د بريژنيف مرگ او پرځاى ئې د اندروپوف رامنځ ته کيدل او کله بيا د نوي تيپ پاليسي د طراح په نوم د گورباچوف قدرت ته رسيدل په فال نيول شوي .

پرافغانستان د روس هجوم د کوم شخصي ديد او هوس مسأله نه ده؛ بلکې روسانو ديوه سياسي، تاريخي، فکري خصلت پربنياد زموږ پرهيواد يرغل راووړ ، داسې خصلت چې د روسي امپراطورۍ د استعماري ساختمان له بنستولو سره ارتباط لري او هغه څه چې پدې باب د روسانو دريځ بدلولاى شي د افغانستان د مجاهدينو د مقاومت په ځير يو انقلابي اعتقادي ، اجتماعي قوت او فشار دى .

څومياشتې د مخه چې د روسي د کمونيست گوند د ۲۷ مې کنگرې په ترڅ کې گورباچوف د افغانستان د قضيې په باب د خپل موقف ، د بيان په ترڅ کې وويل چې د افغانستان بحران موږ ته په يوه ناسورتپ اوښتى او لدې سرڅ ئې يوځاى نحپلو تبليغاتي وسايلو کې د کابل د گوډاگي حکومت له رواني وضعې نه شکايت وکړ او وريسې ئې خپلو مزدوزانوته د ائتلافي حکومت په نامه د يوې بلې ډرامې د تمثيل دستور ورکړ نو د سياسي حل د پروسې عاملينو دا نيرنگ د افغانستان د قضيې په باب د روسي واکمنانو د دريځ او پاليسي دمتجدد او بدلون په عنوان تعبير کړ .

پداسې حال کې چې د دې مسألې د اصلي او کلي جهتونو په باب چې د افغانستان د مسلمانانو پرسرنوشت او هيواد د هغوى يرغل دى گورباچوف بياهم هماغه د بريژنيف خبرې چې گويا : «د افغانستان د ديموکراتيک جمهوريت په کورنيو چارو کې له بهرنه لاسوهنه شوې او موږ له هغه حکومت سره د دوستى له تړون او د ملکرو ملتو د منشور سره سم مرستې ته ورغلي يو موږ په خپلو سرحداتو کې گواښ او تهديد نشو منلاى او حاضر يو د عدم مداخلت په باب د مطمئن بين المللي ضمانت او نحو تعهداتو په صورت کې خپل پوځونه له هغه هيواده راوباسو...!!!» ټکي په ټکي تکرار کړې .

د ژينو د خبرو د اجنډا په څلورمه فقره باندې پر مخامخ خبرو باندې د ټينگار په عنوان د روسي نانځکو ناز او کرشمو د «ښاغلي کور د وويز» او ... د خوشبينانه ديد په رگو کې څه سړوالى رامنځ ته کړ . خو دادې د ببرک د اجير رژيم لخوا د روسي قواوو دوتو د تقسيم اوقات په وړاندې کولو بيا په بين المللي محافلو کې د سياسي حل د زيات پرمختگ آوازې تودې کړې او ورسره د سياسي حل ذيدخلو لور يوهم دا قدم د سولې (!) په خوا يو مثبت حرکت وباله .

دتعجب خبره خو داده چې د ببرک حکومت خو زموږ پرهيواد د روس د يرغل محصول دى ، او د قضيې

يوازيني حل هم د روس د تهاجم او يرغل ژرترژره او بې قيد و شرط پای ته رسول دی نوکه لدی حل نه هدف د روس د تهاجم ختمول وی څرنګه ممکنــه ده چی د دی تهاجم په نتيجه کی راښځ ته شوی حکومت ته دی د فيصلی حق ورکړ شی . « **زموږ ملت پدی توګه د بين‌المللی صحنو تودول د کمونيزم له تسلط او د روس مزدورانو تـه په يوه حيثيت له قايليدلو او برخپلو حقوقو ، سرنوشت او آرمانونو بالدی د پرديو له معامله ګری او ملندو وهلو پرته بل څه بللا ی شی !**

پدی وختوکی چی له يوی خوا د سولی پـه لارکی د حساس او سرنوشت ساز (!) پرمختګ په نامه هلته او دلتـه مجلسونـه ګرميږی ، د سولی پـه نامه يوی بلی خوا تـه سفرونـه صورت نيسی ، اميدونـه ښکاره کيږی او يو اوبل ډول فشارونه پکار اچول کيږی ، خو له بل پلـوه روسان او بی ننګه نوکران ئی زموږ د مسلمان ملت پرمحروميت بالدی د تمسخر زړه تشوی ، خو ورځـی وړاندی روسانو په يوه اعلاميه کی ووېل : « امريکايان د سياسی حـل پروسه له خنډونو سره مخامخ کول غواړی او هڅه کوی بخپلو لاسوهنو سره د افغانستان ډيموکراتيک جمهوريت له نو يـو ستونـزو سره لاس‌اوګريوان کړی» !!!

همدارنګه د کابـل حکومت چی د يـوی روسـی نظامی کميساری زيـات حيثيت نلری په نيويارک کی د ثور په ۱۱ مه نيټه دخپل نمايندەله‌لاری اعلان کړه : «موږ پد افغانستان د شاوخوا حالاتو د کړکيچ په‌باب دروانو سياسی خبرو اتـرو استقبال کوو او هيله‌لرو چی د دی خبرولـه لاری د افغانستان د ديمـوکراتيک جمهوريت پـه کورنيو چـارو کی لاسوهنی بندی شی» !!!

آيا زموږ ملت ته‌ هغه يرغلګرسره پدی حساب او شرايطو کی چی‌بشپړ ملک‌ئی په وينو سورکړی وی‌يونيم ميليون بی‌ګناه ولس ئی د خپل تن‌په مظلومو وينو لمبولی وی،ټول هيواد ئی لوټی‌لوټی کړی وی خو دا هم ونه منی چی دوی د دی قضيی په ايجاد کی حتی‌کـه لاس هم درلودلی سوله او فيصله‌څه معنی لری ؟!

آيا د دی دسولی دبتکر منځګړی په اصطلاح د خبرو پدی سرنوشت ساز دوراو پړاو کی چی تاړاکګر او يرغلګر روس خپل هجوم عادلانه توجيه کړی زموږ ملت ته د داسی شرايطو فيصله او سوله منـل پخپل لاس غاړی ته د کمونيزم دغړواندی اچولو معنی نلـری ؟! او آيا داسی سوله لـدی پرته چی زمـوږ پرملت د کمونيزم تسلط او تپل‌قانونی کړی بل‌څه کولای شی ؟

لکه څـرنګه چی د هـری قضيی په باب د هرچا دريځ د هغی قضيی له حقيقت او واقعيت نه د هغه په برداشت او تحليـل پوری اړه لـری په همدی ډول که د افغانستان په باب نور هرډول تحليل‌اوبرداشت لری او د دی برداشت او تحليل له مخی‌ئی‌چی په وړاندی هر راز دريځ او تګلار لری دا د نوروکارده .

خو موږ چی روس مو پرعقيده ، تاريخ ، او هيواد يرغل کړی ، ملت موئ په وينو لمبولی، هيوادئی‌تالا والا کړی او له خپلی ازادی نه مو د دفاع په ګناه نن په‌کورو د بمونو، وينو او اورونو باران دی نوموږ ته دا قضيه يواځی کومه‌سياسی معامله نده او نه په يوه وجه سياسی عمليه او معامله ګری پای ته رسيدونکی‌ده. بلکی زموږ د عقيدی او تاريخ، ژوند او مرګ او بالآخره اسارت او آزای مسأله ده او د حل يواځينی لارئی‌هم د روسی يرغلګر پوځ بيخپوره بی‌قيد او شرطه‌او ژرترژره وتل او د يـوه مسلمان افغانستان اسلامی موقعيت ته درناوی‌کول دی .

د افغانستان مجاهد ملت دا ډول خبری او د هغوی نتيجی د خپل

پاتی په (۱۷) مخ کی

محمد امین «فروتن»

در بهار آواره‌گان

این کدامین روزگار است و چگونه زمان؟ که در واپسین لحظهٔ آشوب «آدم» درفش ابلیس برزمین می افتد و «انسان» بعد از آنکه «آدم» شد برعرفات تاریخ بایستید و بانگ آشتی را سردادند.

این کدامین روزگار است و چگونه زمان؟ که زمین با سردادن شگوفه های سرخ اراده های عصیانگرنسل انسان را میشوراند و با چنین شور و چنان سرشاری طبیعت از بالین ژنده اش بر می خیزد و برعقب ایمان «آدم» صلوة آغازیدن و تازیدن را میخواند.

این کدامین روزگار است و چگونه زمان؟ که صحرا های خشکیده و تفتیده در زمین لوای سبز سبزه ها را بدوش میکشند و برمیخیزند و علیه خشکیدن و تفتیدن و سیاه شدن وزرد شدن طبیعت بغاوت می کنند شاید صحراهای خاموش و بی زبان، «انسان» عصر آشوب زدهٔ ما را که مدعی میراث این همهٔ مفاخر فرهنگی و اخلاقی است دعوت میدهد تا برخیزد و حرکت کند و بر ناملایمات تلخ تاریخ چنان بتازد که ریشهٔ این همه ستم ها و تبعیض‌ها را نابود کند.

این کدامین روزگار است و چگونه زمان؟ که طراوت گمنام هستی پس از سه فصل تبعید و شکنجه برسر بوته های نازک چمن دست می کشد.

این کدامین روزگار است و چگونه زمان؟ که سینه محکوم شب می فلقد و موذن سیاه پوست فجر آذان دنیای نو را درگوش نوروز یگانه تولدی صبح زمزمه میکند و نوروز فرزند شب سیاه و آوارهٔ محکومیت است که در مسیر حیاتش مانند یک شهید مؤمن هرگز نه مرد و پیامش را دست بدست نسل های تاریخ سپرد.

این کدامین روزگار است و چگونه زمان؟ که طبعیت پس از یک فاجعهٔ خاموش و سرد زمستانی بر روی این همهٔ خیابان های خشک و صحراهای تشنه و استعمار زدهٔ زمین ریزه میرود و میرود تا ببیند که شیطان چگونه فاجعه ها می آفریند و عید طبیعت برخون کی ها ماتم می شود؟ که عروبان را از «افغانستان» تا «سینا» گلو می بندند و می کشند.

این کدامین روزگار است و چگونه زمان؟ که کوه ها با قبای سبز و حله سیاه شان درمیان افشاران توفنده و صحراهای مخملین طبیعت پیام زیبائی وتازه‌گی را دردست دارند. گوئی کوه ها و دره ها، صحراها و بیابان ها در روز یاد بود تولد «نور» که «حرا» چشم آن است و بیابان های سوزان حجاز که محمد (ص) فرزند آن بود سبز پوشیده اند.

ای کوه ها! وای دره ها! ببالید و بخزید و بپوشید که روزی پیامبر خدا با قبای سبز وحله سیاه اش همچوکوهی ازمیان توده های کوبیده شدهٔ اعراب برخاست و از حلقوم «حرای»، «نور» فرمان حریت انسان را خواندند.

بشور آدم! که بهاراست و روزگارخیزشها و برخاستن ها و رفتن های تو.

لاله های خونین از تو خون، دره های سبز از تولوا و ناله های مرغان از توپیغام می طلبند تا به خون تو روح و تن زمان را بشویند با درفش تو قانون الله را برزمین الله حاکم گردانند و با پیام تو همه بخواب رفته‌گان را بیدار سازند.

... آری! نخستین روزهای سال است که آژیر مسؤولیت برای همهٔ هدفمندان معتقد و تمام معتقدان ارادتمند و همه ارادتمندان مؤمن وتمام مؤمنان دردمند وهمه دردمندان آگاه و تمام روشنفکران متعهد نوع انسان نواخته می شود.

بهار! ای شاهد قرن ها! توکه همیشه آمده‌ئی و بازهم آمدی بگو: برچمنزارهای میهن ما که خیمه که تو بودکی ها خیمه زده‌اند؟ و بگوکه تنه های درختان با تو آشنا را چرا بریده اند؟و برکلبه های گلین افغانان کی ها تازیدند و چرا دیوارهای محکم آنرا که سال ها می نوازیدی فرو انداختند و ویران ساختند؟

بهار! ای قاصد عصرها! از لاله های بخون آغشته که برگور عزیزان شهید ما قامت کشیده اند بپرس که شعار یک ملیون شهید ما چیست؟

از بوته ها و نوبوته ها ات باز جوئی کن که آب خورده اند یا خون؟

از مجروحان ما شنیده‌ئی؟ که زخم های خون آلود شان به تو چه می‌گویند؟

بهار! برو در گوش کودکان خنده برلب دنیا بگوکه هزاران کودک کشته شده را دیده‌ئی.

آری! بگوکه پیشمرگان حق و مجاهدان ما چگونه میکشند، چگونه می جنگند و چگونه مقاومت می کنند. بگو!!...

* * *

بررسی یی از سورهٔ الصف

بقلم برادر حکمتیار

ویژگی های صف اسلامی

تجلی ایمان در قول و عمل

سخن نیک آدمی و قول سدید و استوار او چون درخت تنومندیست که ریشه هایش در اعماق زمین فرو رفته است و شاخ هایش را آسمان در آغوش گرفته است. از زمین و آسمان مایه میگیرد و هر دو به تائیدش میپردازد که بدینترتیب در هر فصل سال پر بار و برگ و سر سبزو شاداب است.

سخن نا پاک و بی بنیاد چون بتهٔ بر کنده از روی زمین است که نه زمین میگذارد ریشه هایش در قلب او فرو رودونه آسمان میگذارد بالا برود از تائید هر دو محروم، بی اصل و بی ثبات و بی بارو بی ثمر.

ما قبل از آن که سخنی بزبان بیاوریم و به عملی مبادرت ورزیم، «اندیشهٔ» در خود می یابیم و «هدف» را مطمح نظر خود میگیریم و متعاقب آن «ارده» می نمائیم. «اندیشه»، «هدف» و «ارادهٔ» ما در صورت های گوناگونه گفتارو کردار ما تبارز میکند.

اسلام در بررسی ها وارز یابی هایش همهٔ این ابعاد را بحیث ملاک و معیار بحساب آورده عملکرد ها را تنها از یک بعد و از ناحیهٔ شکل ظاهری اش مطالعه ننموده بلکه بـه بعد اعتقادی و انگیزه «نیت» اهمیت اساسی میدهد، شایـد عملی و سخنی از لحاظ نمای ظاهری اش آراسته و جالب جلوه کند ولی درورای آن «نیت سؤ» حاکم باشد.

عمل فرد مؤمن که از اعماق قلبش بر می خیزد و عقیده و ایمانش به آن شکل میدهد به هیچصورتی نمیتواند متناقض گفتاری باشد که منبعث از ایمان اوست، چنین عملی را بینش توحیدی فرد مؤمن توجیه میکند، و حتماً مطابق به ضوابطیست که این بینش ارائه میدارد، عملی که انگیزه اش ایمان نباشد و به مقتضای ایمان عیار نگردد باوجود ظاهر آراسته و جالبش در معیار های اسلامی ارزشی

نداشته نه تنها به حساب هیچ گرفته میشود بلکه باعث عذاب و موجب مواخذهٔ الهی میگردد .

چنانچه پیامبر (ﷺ) می فرماید :

(ان اول الناس یقضی فیه یوم القیمة ، ثلاثة ، رجل استشهد ، فاتی به فعرفه نعمه فعرفها ، فقال ، ماعملت فیها ؟ قال قاتلت فیك حتی قتلت ، قال : کذبت ولکن قاتلت لیقال : هو جری فقد قیل ، ثم امر به فسحب علی وجهه حتی القی فی النار ، ورجل تعلم العلم وعلمه وقراء القرآن، فاتی به فعرفه نعمه فعرفها فقال ، ما عملت فیها ؟ قال تعلمت فیك العلم وعلمته وقرأت فیك القرآن قال، کذبت، ولکنك تعلمت لیقال. هو عالم ، فقد قیل ، و قرأت القرآن لیقال ، هو قاری ، فقد قیل ، ثم امر به فسحب علی وجهه حتی القی فی النار ، ورجل وسع الله علیه واعطاه ، من اصناف المال کله ، فاتی به فعرفه نعمه ، فعرفها فقال ، ماعملت فیها ؟ فقال ، ما ترکت من سبیل تحب ان ینفق فیها الا انفقت فیها لك ، قال ، کذبت ، ولکنك فعلت لیقال ، هو جواد فقد قیل ، ثم امر به فسحب علی وجهه حتی القی فی النار ، فهولاء اول خلق الله تسعربهم النار یوم القیمه) .

یقیناً اولین مردمی که در روز قیامت دربارهٔ آنان قضاوت صورت میگیرد سه کس اند ، کسیکه به شهادت رسیده است پس او را بیاورند و خداوند (ج) نعمت هایش را به او معرفی کند که او بشناسدش پس می فرماید که درین نعمت ها چه تصرف کردی ؟ گوید برای تو جنگیدم تا آن که کشته شدم ، خداوند (ج) بفرماید ، دروغ گفتی و اما توجنگیدی تا دیگران بگویند که ، او شجاع و جرأتمند است پس بدون شک که چنین گفته شد ، بعد دربارهٔ او دستوری صادر شود ، پس او را برویش بکشند تا آن که به آتش دوزخ بیفگنند .

و مردی دیگری که علم آموخت و بدیگران بیاموخت و قرآن را قرائت کرد ، پس او را بیاورند و خداوند نعمت هایش را به او معرفی میکند که او بشناسدش بعداً خداوند (ج) بفرماید که درین نعمت ها چگونه تصرف کردی ، گوید بخاطر توعلم آموختم و بدیگران بیاموختم، و برای رضای تو قرآن خواندم ، پس خداوند بفرماید ، دروغ گفتی ، واما تو علم آموختی تا ترا عالم گویند و چنین گفته شد و قرآن خواندی تابگویند تو قاری قرآنی و چنین گفته شد ، بعد دربارهٔ او فرمانی صادر شود سپس او را برویش انداخته بجلو بکشند تا آن که بدوزخ افگنده شود .

و مرد دیگری را بیاورند که خداوند بر او فراخ گرفته است و از همهٔ اصناف گوناگون مال به او عطاء کرده است ، پس خداوند نعمت هایش را به او نشاندهی کند و او به همه پی ببرد ، بعد بفرماید ، درین نعمت ها چگونه تصرف کردی‌گوید : هیچ موردی را که تو دوست داری دران انفاق شود نگذاشتم مگر آن که برای رضای تو دران انفاق نمودم ، خداوند (ج) بفرماید ، دروغ گفتی و اما تواینکار را برای آن کردن تا بگویند ، او مرد جواد و سخاوتگریست ، و چنین گفته شد بعد در خصوص او امری صادر شود ، پس او را برویش انداخته بجلو بکشند تا آن که در آتش دوزخ بیفگنند .

اینها نخستین مخلوق خدا (ج) اند که در روز قیامت آتش دوزخ بوسیله آنان شعله ور شود .

علاوه براین ، عمل مبتنی بر ایمان لوازم دیگری نیز دارد که قرآن آن را با تفصیل بیان نموده و مقبولیت و پذیرش عمل را به آن مربوط و منوط می شمارد چنانچه می فرماید :

﴿نعم اجرالعاملین ـ الذین صبروا وعلی ربهم یتوکلون﴾.

(العنکبوت : ۵۸ ، ۵۹)

چه نیک است پاداش عاملین ، آنانکه شکیبائی می ورزند و بر پروردگار شان توکل میکنند .

درین آیه ، «صبر» و «توکل» بعنوان لوازم «عمل» معرفی گردیده و نشان میدهد که با داشتن چنین صفاتی به پاداش نیک اعمالش نایل میشود .

گویا «صبر» و «توکل» توأم با «عمل» مطرح بوده و چنانچه مردم جاهل از روح قرآن ، می پندارند تصورات مجرد ذهنی نیستند که جدا از «عمل» دارای مفهوم و معنای باشند .

«صبر» ضامن استدامت «عمل» و باعث استمرار آن

در خط بوده موجب میشود که در خم و پیچ راه از آغاز تا انجام طبق برنامه و هم آهنگ با ضوابط صورت گیرد .

صبر یعنی مراعات «برنامه» در «عمل» با استواری و قاطعیت و عدم ترک آن بنابر دشواری ها و مشکلات (!).

صبر یعنی مقابلهٔ استوارانه در برابر همهٔ عوامل منفی که ما را به انحراف از خط می خواند ، چه این عوامل از ضعف نفس ما مایه گیرد و یا وسواس خناس بر انگیزد و یا از فراز و نشیب راه بطور طبیعی بر خیزد .

و «توکل» یعنی ، نتایج عملکرد ها را بکسی سوکول کردن و بران اعتماد و اطمینان داشتن که برنامه وضع نموده و برای هر عملی نتایجی نشاندی کرده است .

اگر «شارع» بر خلاف قضاوت های مادی ما ، دستور داده است که در اثنای در گیری با دشمن «یکی» در برابر «ده» بایستیم و مطمئن باشیم که باهمهٔ این تفاوت بزرگ ، به پیروزی خواهیم رسید ، تعمیل این دستور ، در اثنای در گیری با دشمن ، باوجود عدم توازن و تفاوت چشمگیر، یک و ده از لحاظ عدد و عدة و با اطمینان راسخ ، به پیروزی محتوم و موعود ، در برابر دشمن بظاهر نیرومند، ایستادگی نمودن و نتایج را بخدا محول کردن و به آن راضی بودن ، این است توکل ، نه اینکه ترک «عمل» و عدم مراعات دستور در عملکرد ها را توکل شمرده و احساس ضعف و نا توانی و تسلیم شدن به حقارت ها را بعنوان توکل توجیه کاذبانه کنیم .

همچنان عملکرد افراد مؤمن در پهلوی «صبر» و «توکل» به چیز دیگری بنام «تقوی» ضرورت دارد ، تا به نتایج نیکی منتج شود .

دانشمند مبارز ، دعوتگر مجاهد مولوی صاحب عجب گل امیر جهاد ولایت کندز با یکتن از عساکر اسیر شده روس در حالت صحبت دیده میشود .

تقوی یعنی :

هر جزء برنامه را با همهٔ دقت بکار گرفتن .

در اثنای حرکت در خط با احتیاط و دقت بجلو رفتن و هر گامی را محتاطانه برداشتن .

از انحراف بچپ و راست بیم داشتن و حذر کردن .

خود داری از آن چه ممانعتش صورت گرفته است .

و بالاخره اجتناب از عدم مراعات آن چه دستور تعمیلش داده شده است .

چنانچه در سورهٔ «صف» پس از بحث دربارهٔ «جهان بینی توحیدی» طی نخستین آیه ، متعاقباً هم آهنگی میان «ایمان» ، «قول» و «عمل» در دوهمین آیه ، مورد بحث قرار میگیرد که نشان میدهد دو همین عنصر مهم و سازنده در صف اسلامی وحدت عملی میان افراد صف است ، کسانی میتوانند در یک صف دوش بدوش هم بکار بپردازند که شخصیت عملی و اخلاق شان دارای عناصر مشابه و همگون باشد .

افراد یکه مستویات اخلاق آنان از همدیگر تفاوت فاحش دارد ممکن نیست در یک صف ، توحید و تنظیم شوند برای تشکیل صف اسلامی همچنانکه لازم است در زمینهٔ تأمین وحدت فکری «اعضاء» بکار جدی پرداخت ، باید در جهت تربیهٔ اخلاق متعهدین اهتمام ورزید و سعی کردهمهٔ افراد ، تا بلند ترین مستوی اخلاق رشد نمایند ، قرآن در رابطه با این موضوع در بارهٔ مسئولیت های پیامبران (ع) بعنوان رهبران نهضت می فرماید :

﴿ربنا وابعث فیهم رسولاً منهم یتلوا علیهم ایتك ویعلمهم الکتب والحکمه ویزکیهم ، انك انت العزیز الحکیم﴾ البقره : ۱۲۹

پروردگارا ! پیامبری در آنان بر انگیز تا آیات ترا بر آنان بخواند و کتاب و حکمت به آنان بیا موزد و تزکیه و تربیه شان کند محققاً که تو غالب باحکمتی .

مشاهده میکنید که رسالت پیامبران(ع) درتعلیم(که از تلاوت آیات آغاز و پس از مرحله تعلیم کتاب با آموزش حکمت به پایهٔ تکمیل میرسد) و در (تربیه و تزکیه) افراد خلاصه میشود .

پیامبر (ع) نیز می فرماید :

(بعثت معلماء لاتمم مکارم الاخلاق) .

چون آموز گاری برانگیخته شده ام تا مکارم اخلاق را به اتمام برسانم .

او «معلم» است و «مربی» .

رهبری صف اسلامی باید چون اموز گاری عمل کند و صف را چون «تربیت گاهی» بسازد ، به این ترتیب امکان آن میسر میگردد تاصف منظم و متحد اسلامی تشکیل گردد .

خداوند مستعان (ج) بهمهٔ پاسداران و سنگرداران مؤمن صف اسلامی ما ، در هر مستوای که قرار دارند و در هر سنگری که مصروف اند توفیق عنایت کند تا «قول» ، «عمل» ، «گفتار» و «کردار» شان را هم آهنگ ساخته بموازین «ایمان» و مقتضیات مکتب شان عیار سازند و بدینترتیب عضو مفید برای صف اسلامی شوند .

وما توفیقی الا بالله

علیه توکلت والیه انیب

سیاسي تبصره

اسلامی انقلاب او خپلو مظلومو شهیدانو د الهي ارمانونو اودتاریخ

د تېولو مستضعفینو پر غوښتنو باندی له یوی استعماری معاملی پرته بل

څه نه گڼي .

او د مسلمان امت تول اولسونه په تیره بیدار او ژوندی حرکتونه او کتلی او تول مستضعف قوتونه د خپل آرمان ، خط او قضیی د عدالت او حقانیت او د اسلامی نړی د گډو

مقدراتو او سرنوشت په خاطر د دارنگه معامله گریو پر خلاف انقلابی اعتراض او متعهدانه قیام ته راپولی .

محمد معروف «فروغگر»

بازتاب تعهد و هدفمندی در زنده‌گی افراد نهضت

پیوسته به‌گذشته

خداوند(ج) درجای دیگری از قرآن‌کریم مؤیدان دینش‌را که همانا افراد «حزب‌الله» هستند بشارت میدهند به‌این منوال که:

و لینصرن الله من ینصره ان الله لقوی عزیز ، الذین ان مکناهم فی الارض اقاموا الصلوة و اتواالزکوة و امروا بالمعروف ونهوا عن‌المنکر و لله عاقبة الامور. (حج : ۴۰-۴۱)

ترجمه: و حتمی است که خداوند نصرتش را شامل حال کسانی میگرداند که دینش را پشتیبانی میکنند، به تحقیق خداوند توانا غالب است یا به کسانی این نعمت خداوندی ارزانی میشود که اگر ایشان را در روی زمین جایی بدهیم (صاحب اختیار خود باشند و از سلطهٔ غیرآزاد) نماز را برپا میدارند. زکات میدهند به نیکویی‌ها و نیکی‌ها امر میکنند و از بدی‌ها و زیشتیها برحذر میدارند ـ وفرجام کارها برای خدا(ج) است.

تقوی و نقش عمل صالح در هر طرح وشالوده‌یی که برای نمود سیمای اعضای «حزب» عرضه میشود ـ نقش سازنده‌یی داشته و این هم یکی از ثروتهای معنوی و روحی آنها بحساب می‌آید.

طرحیکه در سورهٔ مائده و سورهٔ مجادله ، مبتنی براینکه، اعضای حزب الله دارای چنین صفاتی هستند ـ در سورهٔ حج نتیجهٔ کاربرد این صفات را که «بیدریغ» نصرت پروردگار است برسر راه قافلهٔ منزلزدهٔ نهضت قرار میگیرد ـ روی هم رفته اگر در هر گوشه‌یی از بسیط زمین یک گروهی از همین قماش در واقع عمل بیاید تائید خداوندی به استقبال شان میشتابد و یگانه راه حلی که میتواند ـ مسلمانان را از نکبت نجات دهد ـ آنها را به یک جماعت و یک قیادت و یک نظام دعوت دهد ـ حزبی ساخته شود پرتوان دارای برنامه های «آموزشی پرورشی، فرهنگی ، نظامی ، اجتماعی ، سیاسی ، اقتصادی و سرتا سری» غیر از همین راه نتواند بود .

چون این روز فرخنده‌یی فرار سد و حزب خدا قیام کند «البته قیام سرتا سری» مقدمه یی خواهد بود برای حل مشکلات سایر مسلمین، هرگاه حزب قیام‌کند ـ ناگزیر است نظام و قیادتی داشته باشد که بدون موجودیت این دو رکن اساسی در پیچیدگیها و پرابلمها ساده گی و حلی بوجود نمی آید و بدون نظام تربیتی و ثقافتی «جند الله» یا سپاهیان دین خدا در معرض وجود نمی آید ـ با پیمودن این مراحل «تعهد» جان و تن میگیرد و زلزلهٔ شدیدی برارکان کفر و استکبار طاری می شود :

ولا یحسبن الذین کفروا سبقوا انهم لا یعجزون. واعدوا لهم ما استطعتم من قوة ومن رباط الخیل ترهبون به عدوالله وعدوکم و اخرون من دونهم

لا تعلمونهم الله يعلمهم وما تنفقوا من شئ

في سبيل الله يوف اليكم و انتم لا تظلمون.

ترجمه: و نه پندارند کافران که ایشان درگریز پیش دستی کردند، هر آیینه ایشان عاجز کرده نتوانند ما را (ازتعصب خویش) و(شما) اماده سازیدبرای ایشان آنچه توانید از «نیرو» و اماده کنید از اسپان بسته، که میترسانید به آن دشمن خدا و دشمن خویش را - و قوم دیگر نیز بجز ایشان (که منافقین اند و شما) ایشان را نمیشناسید خدا ایشان را میشناسد (نیز از این امر مثتثنی شده نمیتواند) - و آنچه خرج کنید در راه خدا(ج) از هر چه باشد - پاداش آن به شما داده شود و ستم کرده نشوید.

آنچه عمدتاً از مطالب این آیات بر می آید این است که:

(الف) در صورت تشکل حزب خدا(ج) کفار رو به نابودی میگذارند و در هیچ گوشهٔ زمین بجز تسلیم راهی ندارند.

(ب) تشکل حزب خدا خواهان آن است که باید دارای نیروی نظامی باشد که در هر برههٔ زمان برنیروی نظامی دشمن برتری داشته باشد که در این جابر پذیرش و توسعه و پیشرفت تکنولوژی جنگی نیز تأکید شده است.

(ج) وسایل جنگی شما چنان پیشرفته تر باشد که دشمن را بهرعب و ادارد و منافقینیکه درظاهر با شما و درباطن با دشمن اند - جرئتی بخود ندهند که نظم شما را اخلال نمایند.

(د) از ریختن مال و قربانی آن در راه اعلای کلمةالله و پیروزی حزب خدا(ج) دریغ نورزید.

** چگونه در یک نهضت اسلامی حرکت آغاز می یابد؟

آیا این تشکل که از تعهد به تحزب و در و پیکار و خلافت روی زمین منجر میشود، فقط یک واقعیت خشک و مجرد ذهنی است؟ و بهعقیدهٔ بعضیها بر زبان تعهد و در تنبان شتر دزدیدن است؟ و با جهان واقع سروکاری ندارد، جز بهظاهر آراستهٔ ادمکها بی حسابی؟!

از آنجاییکه قضاوت، مبنی برجهانبینی اسلامی است تا، با وضع حاکم بر جامعه، هیچگاه بخود حق نمیدهیم و اصولا حق داده نمیتوانیم که ایدیولوژی اسلامی را بامعامله چند تا پاشکسته وسرکفیده و داعیان کاذب تعهد بسنجیم - طوریکه بعضیها می پندارند و پندار چه که عمل می کنند ایدیولوژی و الا و بالای اسلامی منزه و پاک است و هیچگاه تابع هوسرانیهای بی‌بند و باران خودکامه نمیشود - ایدیولوژی اسلامی توأم است باحرکت ذاتی آن که در اصطلاح به‌آن «انقلاب» میگوییم - که به این حساب ایدیولوژی اسلامی - یک ایدیولوژی کاملاً انقلابی است که حرکت و جنبش آن را در دیدگاه های، زیر بحث، فشرده میکنیم:

ارکان حرکت در حزب خدا که ناشی است از ایدیولوژی اسلامی به چهار بخش است:

(الف) تیوری تکامل یافته در فرهنگ و تربیت.

(ب) تیوری سالم در قسمت تنظیم و تسبیح.

(ج) تخطیط مناسب و تعیین قلم رو عمل.

(د) تیوری صالح در تنفیذ احکام، مقررات، دستور ها و....

فرهنگ و آموزش در نهضت بمثابهٔ چراغی تلقی میشود که انسان را در تاریکیها رهبری میکند و همین فرهنگ و آموزش تکامل یافته و بی عیب است که تغییری عمیق در ارکان جامعه ایجاد می‌نماید - فرد را

از درون و وجدانش دیگرگون میسازد و جامعه را از راه اصلاح افـراد نظم و انسجـام اسلامی میـدهـد ـ ارتباطات را صالح میکند و چون طبیبی حاذق درد ها و آلام جامعه را تشخیص و بـه مداوای آن عاملانـهٔ جد و جهد می‌نماید :

ان الله لا یغیر ما بقوم حتی یغیروا ما بانفسهم

همانا خداوند(ج) حالت قومی را تغیر نمیدهـد تا آنگاه که آنها چیزی را که در نفسهای شان است تغییر ندهند. برداشت ما همین است که مرحلهٔ اول تغییر از نفوس آغاز می شود و سپس بر جوارح حاکم میگردد و بعد از آن برافراد و جامعـه حکم میراند ـ و تغیری را که در نفوس بشـری رونما می گرداند فرهنگ و تربیت تکامل‌یافته و سالم است وبجز انتخاب فرهنگ و آموزش سالم در رهبری جامعه هر راه دیگری مواجه باین بست میشود و به‌ناکامی می انجامد.

واقعیت تیوری سالم در نظام و تنظیم ضامن آن است که حرکت حزب به‌راهی روشن و قبلاً تعیین شده باداشتن نسق درست ترتیب و رهبری شود و ازهرگونه آلایش ، اضطراب و مشکل و هرج مرج کنـاره ماند ، زیرا افراد نهضت که این حرکت را به‌پیش می برند ـ بدون یک قاعدهٔ کلی که همـه شان برآن اتفاق نظر داشته باشند نمیتوانند فارغ از بی‌نظمی به‌کارهـی شان ادامه بدهند ـ زین‌رو ضرورت موجودیت نظام و قیادت پیش می‌آید.

نظام و قیادت یکی از مراجع عمده و مهم تعهد و بیعت افراد حزب است که نظریه توالی زمان و نسبت به‌تبدیلی شخصیتهـا تجدید می شود و در حزب جذب میگردد و در نظام تنظیم می‌یابد و در روشنایی تربیه سالم و فرهنگ تکامل‌یافته تنویر می‌شود و در همـه ابعاد زندگی پیروز و فرازمند.

حضرت پیامبر(ص) در بیعت دوم عقبه به‌انصار دستور داد که از بین خود شان دوازده تن امیرانی را تعین کنند که از اقوام شان مسؤول و در راه پیشرو امور مرجع خاص و عام باشند و از نصوص روز حنین مستفاد میشود که هرگروهی از مؤمنان امیری داشتند و پیامبر بزرگوار اسلام امر می‌فرماید که هنگام سفـر یکی را از بین تان امیر تعیین کنیـد : (با وی تعهـد بسپارید وزیر قوماندهٔ او به‌حرکت تان ادامه بدهید) در جای دیگر می فرماید که اگر مؤمنی بدون بـیعت با امیری می‌میرد ـ در جهالت مرده است.

تعهد در این مرحله‌یی از زندگی حسابی این حقیقت را می رساند که بغاوت در نهضت اساس همهٔ بدبختیها، شکستها و ناهمگونی‌ها است ـ تعهد است که امور را تنظیم میکند و رونقی به‌خصوصی به‌آن میدهد که نسبت به‌اجرای همین امور درمیا دین دیگر زندگی به‌شرطیکه ماده تعهـد در آن دخیل نباشد ـ درخشندگی و فـرق اساسی و کلی دارد.

حرکت در این جهت که رکن سوم حرکت حزب است خواهان آن است که تخطیط مناسبی برای تعیین قلم رو عمل طرح و پی ریزی شود، زیرا هرج و مرج و بی نظمیها هیچ دردی را نمیتواند دوا کند ـ از هم پاشیده‌گیها هستند که هدف را از مردم و مردم را از هدف دور نگهمیدارند و جوی برهستی نهضت حاکم می سازد که همه را مرض مهلک تشویش، سکوت، یأس و نومیدی و در آخر عدم اطمینان نسبت به‌آینده فرامیگیرد، بازار انتقادهای مملوء از عقده‌ها و تخریب گرم میشود ـ هر فردی از نهضت خودش را همه چیز فکر می‌کند و مجازی برای سیل خانمان برانداز عوامل

خارجی که هرچه پنداشته میشود - باز میگردد.

انارشی در کارها، یکی از عواملی است که روح هم‌بستگی را می‌میراند - فضای اخوت را مکدر میسازد و ضابطهٔ امر بالمعروف ونهی از منکر را ازهم میپاشد - مراجع حل پرابلم‌ها را متعدد میسازد - نوسازی‌ها را از بین میبرد - نظرات زشت و زیبا را باهم می‌آمیزد - راه صواب و خطا را مندمج میسازد و زعامت حزب را در بحبوحهٔ درگیر میکند که افراد دلسوز به‌نهضت از افراد آماتور و ماجرا جو تفکیک نمیشود - استعدادها می‌میرند و همه‌چیز در فضای گردآلود از خود پراگیها فاسد میشود.

بدیهی است که بوجود آمدن جو انارشی و عدم «سمع واطاعت» - اگر از یکسو نهضت را درموضعگیری باطاغوت تضعیف میکند - از سوی دیگرعاملی درونی‌ی است که نسبت به ناکرده های طاغوت خیلی خطرناک و نابود کردنی تلقی میشود و ضربهٔ انارشی نسبت به ضربهٔ طاغوت خیلی‌ها کاری و موثر است - به حساب آنکه جنبش را از پا در آورد.

تخطیط مناسب برای تعیین قلم رو عمل روی این همه نابسامانیها را سد میشود و منحیث المجموع از خود گریها جلوگیری بعمل می‌آورد و همه نیروهای فرای نهضت را در جهت اجتماعی اش بسیج و توجیه متی کند.

عناصر سازنده‌یی که ارکان حرکت جنبش اسلامی را احتوا میکنند بالاخره میرسند به «تیوری سالم در تنفیذ احکام و دستورها و . . . »

در این مرحله‌یی از حرکت، نظر وتیوری که در مکتب ما توأم است باعمل، باید از خصوصیتهای مملوء باشد که بین افراط و تفریط موضعگیری نموده از همه گونه گرایشهای غیر خدائی پاک و منزه باشد، نظریات شخصی که مستلزم بهره کشی و نفع اندوزی و جاه طلبی و حمایه از ارکان سیاست خویشتنداری است، عنصر زالوگونهٔ هم‌طبقی و هم‌خونی و عصبیت و به اصطلاح روز لشنالیزم که به «از دیگران بیگانگی» میخواند، تسلسل غیرمنطقی دست به‌دست کردن کارها که بیروکراسی و کاغذ پرانی را ازان مراد میکنند، بروزگروهکهای خود مختار !!! که خود شان را بالاتر از زعامت واصل نهضت می‌تراشند و ناشی می شود از جاه طلبی وعدم «سمع وطاعت»، تعلل بی‌جا در انجام کارها و به‌تعویق انداختن آنها ضعف اداره و نظارت در حلقه‌ها که نتیجهٔ منطقی خود سریها است و . . . . این همه باید - در پروسه تکاملی حزب که تیوری سالم آن را سرو صورت میدهد به دور انداخته شود و از آن احتراز شود و شیوه‌یی در انجام امور انتخاب گردد که از رقت «موعظه» و جزالت «حکمت» برخوردار باشد.

علامه ابوالحسن ندوی در کتاب نفیس «ما ذا خسر العالم بانحطاط المسلمین» هنگامیکه «مجتمع اسلامی» و ماهیت آن را عنوان میکند، نحوهٔ تیوری سالم را در رابطه با انجام امور و چگونگی موجودیت ارزشهائیکه این واقعیت را در هر صفحه‌یی از زمان تکرار می‌نماید - بازگو نموده، مینویسد:

ایمان بخدا و پیامبرش و روز باز پسین و تسلیم شدن بخدا(ج) و دین او - زندگی برتری را به‌عالم انسان اقامه میکند و هر فردی را در جامعه بشری در موضع خودش قرار میدهد، از آن کوتاهی نمیکند ونه براو ظلم و تجاوز روا میدارد و بدین ترتیب هیئت بشری به نیروی راسخی مبدل میشود که جزئی

ترین بی‌نظمی و «شوک» در آن دیده نمیشود ـ مردم همه متعلق به یک خانواده میشوند که پدرشان حضرت آدم (ع) است. . . . ابی ذر (رض) روایت میکند که حضرت پیامبر (ص) فرمودند :

«انظر فانک لست بخیر من احد ولا اسود ، الا ان تفضله بتقوی الله»

بنگر که نسبت به هیچ کسی برتری نداری ، نه نسبت به سیاهی، مگر آنکه او را خداوند به تقوی فضیلت نصیب کرده باشد. ومردم از حضرت پیامبر(ص) در دل شبها، هنگامیکه به پروردگارش نیایش میکرد ـ می‌شنیدند ، که می گفت :

«و انا شهید ان العباد کلهم اخوة» .

من شاهدم که بندگان همه شان برادر اند.

لیس منا من دعا الی عصبیة :

حضرت پیامبر(ص) ریشه‌ها و جراثیم جاهلیت را از بیخ و بن برکند ، شیره اش را خشکاند و آن همه نوافذی را که جاهلیت برآن نفوذ میکرد مسدود ساخت، فرمودند :

«لیس منا من دعا الی عصبیة ولیس منا من مات علی عصبیة».

از ما نیست کسیکه به قومیت دعوت میدهد و از ما نیست کسی که برقومیت میجنگد و از مانیست کسیکه برقومیت می‌میرد.

از جابر بن عبدالله روایت شده است، او گفت : . . . مردی از مهاجرین یکتن از انصار را تهدید کرد، انصاری صدا کرد ! ای انصار ! و مهاجر ندا سر داد : ای مهاجرین ! سپس حضرت پیامبر (ص) فرمودند : این را ترک کنید که گندہ است و بدبو است» .

کلکم راع و کلکم مسئوول عن رعیته :

با این فرمودۀ پیمبری طبقات و نژادهای مختلف مردم در جامعۀ اسلامی دستیار وهم بازوی یکدیگر شدند و یکی برحقوق و وجایب دیگر تجاوز نکردند ـ در برابرهم قرار نگرفتند، مردها برزنان حاکم شدند و امور سرپرستی، نفقه و برآوردن ما یحتاج دیگر زندگی آنها را بعهده گرفتند و در مقابل زنها صلح و صفا از خود نشان دادند . . . در امور شرعی باهم مساوی قرار گرفتند و در سایر اطراف و ابعاد جامعۀ اسلامی فرد، فرد مردم راعی شدند و از رعیت شان مسئوول،

«امام» از رعتیش مسئوول»

«مرد از اهلش راعی و مسئوول»

«و زن در خانه شوهرش پاسدار و مسئوول»

«خادم در مال ولی نعمتش پاسدار و مسئوول»

و همینطور جامعۀ اسلامی به جامعه‌یی بدل شد که رسیده بود و عاقل بود و از اعمالش مسئوول شناخته می‌شد .

چون کارها به اهلش سپرده شود ـ فکرخویشتنداری و نظرات را به این پیمانه سنجیدن به دور انداخته شود کسی درکار مطابق به استعدادش احساس مسئولیت کند، آنگاه حکم میکنیم که «تخطیط مناسب برای تعیین قلم رو عمل» برکرسی نشسته است و آن زمان است که حرکت حزب ، دم به دم سریعتر شده میرود و موانع یکی پی دیگر راه را ـ برای عبور پیشرو نهضت و گامزنی پاسداران نهضت، خالی نموده ، سوالی پیدا نمیشود که در برابر حرکت حزب مقاومتی از خود نشان دهند .

(ادامه دارد)



د مولوی عبدالولی فیضان لیکنه

د یوه مبارز او مجاهد مسلمان صفتونه

د فتحې په وخت کې

۲۵: مجاهد چه کله د دښمن سره په جګړه او مبارزه کې شامل شي او د خدای(ج) نصرت ور په نصیب شي او په پردښمنانو غالب او فاتح وګرځي، مسلمانان د خدای(ج) پاک بندګان ئې مرسته وکړي او د ده ترڅنګ ودریږي نو پدې تولو حالتوکې ځان ونه بایلي، مغروره نشي او هرڅه ځانته منسوب نکړي، بلکه ددې په مقابل کې د خدای(ج) د نصرت او د مسلمانانو د مرستې د شکرانې په ترڅ کې د خدای(ج) په تسبیح، ثنا او صفت سره مشغول شي تردې چه د خپلو تولو کړو وړو په هکله سخت محاسب او متوجه وی د غلطیو او اشتباه ګانو، سهووا و ښوییدنو د تصور په فضا کې د خدای(ج) د ښېنې غوښتنه وکړي لکه چه خدای(ج) رسول الله صلی الله علیه وسلم ته فرمائی :

«اذا جاء نصرالله و الفتح ورأیت الناس یدخلون فی دین الله افواجا فسبح بحمد ربک واستغفره انه کان توابا».

کله چه د خدای مرسته او نصرت را شي او فتح او غلبه هم نصیب شي او ته وګورې چه خلک ډلې ډلې د خدای(ج) په دین کې «را داخلیږي» نو ته د خپل پالونکي په پاکې یادولو او ستایلو مشغول او لګیا شه او د هغه(ج) څخه ښېنه وغواړه، بیشکه چه هغه توبه قبلونکي او په توبه ایستولکیو باندې رجوع کونکی دی.

دا پورتنی مبارک سورت یو مدنی سورت دی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د پاک ژوند په وروستۍ مرحله کې نازل شویدی، او هغه سپېڅلی ذات ئې ډیرو مهمو شیانو ته په ډیر نازک حالت (قهر، غلبې، فتحې او د انتقام د قدرت لرلو په وخت کې) متوجه کړی دی حتی د امر (فسبح ـ واستغفره) په کلمونې ورته خطاب کړیدی او رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې سورت د مخه د جنګ او غلبې په ډیرو میدانونو کې د خپل فطری لوړ ظرفیت او الهی تربیې په لرلو سره د خدای (ج) د نصرتونو قدردانی کړې په ذکر، حمد، مشغول شوی ـ او په خپل طبعی حالت کې یې په ځلیرویشت ساعتونوکې د او یا (۷۰) ځله نه زیات د خدای(ج) نه ښېنه غوښته، پداسې حال کې چه خدای (ج)

د فتحې په صورت کې ورته د بخوانیو او وروستنیو گناهونو د بخښلو زیری ورکړی دی (یغفرک الله ما تقدم من ذنبک وما تأخر).

نوددی ټولو پورتنیو حقایقو په څیړلو سره دا په ډاگه شوه چه د امت لپاره په عامه توگه او د مجاهدینو او د دوی د مشرانو لپاره په خاص ډول ددی خطرناکې مرحلې تعلیمات ورکړی شوی دی، ترڅو مسلمان د خپلو اعمالو په لیدلو سره مغرور او بې لاری نشی، او هغه د خپل ځان، لاس، پوهې، تدبیرمندو، ترږو محصول ونه گڼی او د قارون په شان ونه وائی:

«انما اوتیته علی علم عندی». (قصص - ۷۸)

بیشکه دا (زما مال شتمنی) زما د پوهې په اثر چه زما سره ده راکړل شوی دی، هغه د خدای(ج) د رسول موسی(ع) د نصیحت نه چه د زکات، صدقاتو او مالی قربانی په هکله ئی ورته کوله مخ واړاوه او بغاوت ئی وکړ، د هغه نصرت چه خدای (ج) ورکړی و بې قدری ئی وکړه او هغه ئی خدای(ج) ته نه بلکې خپل ځانته منسوب وگاڼه، لوځکه د خدای(ج) د قهر او غضب موردو گرځیده له مال او نعمت سره یو ځای په ځمکه کې ډوب او لنووت او د خدای(ج) په کتاب کې د «باغی» او سرکښي په بد نوم و نومول شو.

هو زموږ هرڅه د خدای(ج) دی د خدای(ج) نصرتونه غیبي دی، په ظاهری او موقتی ساز سامان پوری اړه نلری د هغه جهت او وخت معلوم ندی، کله چه خدای(ج) په مسلمانانو کې اخلاص، توکل، ثبات سمع او اطاعت وگوری نو په هر حال او هر ځای کې چه حتی انسان د هغه درک هم نشی کولی خپل مخلوقات د دوی سره ملگری کوی او د مرستی اصل منبع چه په خپله خدای(ج) دی، مستقیمه مرسته کوی.

د بدر لوړنی جگړه چه د حق او باطل د قواو ترمنځ پیښه شوه، مسلمانانو د جنگ لپاره پوره تیاری نه وه نیولی یو ناڅاپه د قافلې د مخې د راگرځولو په نیت راوتلی وو خو په نتیجه کې د یوه قوی او مجهز لښکر سره چه شمیر ئی هم د دوی په نسبت دری چنده و مخامخ شول. نوپه داسې حالت کې ئی خپل خدای(ج) ته چیغې او ناری پیل کړی. چې قرآن کریم موږته هغه داسې تمثیلوی:

«اذ تستغیثون ربکم فاستجاب لکم انی ممدکم بالف من الملائکة مردفین».

کله چه تاسو خدای(ج) ته چیغې وهلې نو خدای(ج) هم ستاسو ناری او غوښتنې ومنلې او تاسو ته ئی ډاډ درکړ، چه بیشک زه ستاسو سره په زروتنو ملائکو چه یو پر بل پسې راتلونکی دی کومک کونکی یم. نوبیائی ددی لپاره چه مسلمانانو پرملائکو زړونه ونه تړی و فرمایل:

«وما جعله الله الا بشری ولتطمئن به قلوبکم
وما النصر الا من عند الله   الله عزیز حکیم».
(انفال - ۱۰)

او خدای(ج) دا (د ملائکو لیږل) یواځې ستاسو لپاره زیری گرځولی او د دې لپاره چه ستاسو زړونه په هغه باندی ډاډه او آرام شی. او ندی نصرت او مرسته مگر یواځې د خدای(ج) له طرفه، بیشکه خدای(ج) غالب زورور او د حکمت خاوند ذات دی.

پدی آیت شریف سره خدای(ج) مسلمانانو ته درس ورکړ چه پخپلو وسائلو، پروگرامونو دلو او قومونو، ځای او نورو محیطی عواملو زړه و نه تړی د بشری قدرت په اندازه سره هرڅه تیار کړی او د خدای (ج) د ارشاداتو پوره پابند او مرستی ته ئی

امیدواروی ـ خدای (ج) د خپلو مخلصو متدینو ، فعالو او باثباته بندگانو سره بیله واسطی ناځا په او مستقیمه مرسته کوی، ډیرضعیف او تر سترگو لویدلی واحدونه ئی په لویو مغرورو او مجهز و مادی او ظاهری قوتونو بریالی کړی دی او د هغوی سیاست او سیادت ئی خپلو کمزوریو ولی با ایمانه معنوی قوتونو ته سپارلی دی ـ نومسلمان مجاهد به ځان یوازی خدای(ج) ته سپاری او پرخپل خالق، رازق او خدای (ج) توکل او تکیه کوی، خاص د هغه نه به مرسته غواړی او د ایاک نستعین ـ مفهوم او معنی چه پخپله ئی په یوه شپه او ورځ کی (۳۲) ځلی د رازاو نیاز په حالت کی په ادب او عاجزی سره تکرار وی په زړه او دماغ ئی حاضرکړی، او د هغه د تقاضا سره سم عمل پری وکړی ځکه د انسان عمل ته خدای(ج) جهت او تاثیر ورکوی ـ د بدر په غزوه کی د دښمن او یا نفره مشران د سرسری ووژل شول، خو د دی لپاره چی مسلمانان مغروره اوهرڅه په ځان ختم نکړی خدای(ج) و فرمایل:

«فلم تقتلوهم ولکن الله قتلهم وما رمیت اذ رمیت ولکن الله رمی». (انفال ـ ۱۷)

نو تاسو دوی ندی وژلی بلکه هغوی خدای(ج) وژلی دی ـ او تاویشتل (په شگو) ندی کړی کله چه د ویشتل وکول مگر خدای(ج) وویشتل.

یعنی دا دکفارو مشران د خدای(ج) د غیبی لښکرو په واسطه وژل شوی دی ترڅو د مسلمانو مجاهدینو ایمان د خدای(ج) په نصرت او کومک سره قوی او زړه یی د شک او تردید، ویری او لړزی څخه پاک شی همداسی د رسول الله (ص) هغه یو موټی خاوری چه دمشرکانو مخ ته و شندلی خدای(ج)د ټولومشرکانو سترگونه ورسولی او د سترگو په موښلو اخته شول همدا واقعه د کافرانو د شکست سبب شوه، په آیت کی د ویشتلو او نه ویشتلو دواړو نسبت رسول الله(ص) ته شوی دی د اثبات او نفی دوه متضادی معناوی په یو وخت او یو شخص ته سړی په تعجب کی غورځوی، خو چه لږ سړی ورته ورځیر شی نو مطلب ئی دا دی چه ویشتل خو ستا په لاس دی خورسول او موثر واقع کول ئی د خدای(ج) کار دی.

۵۳ـ د مؤمنو ملگرو زیات والی لوی نعمت دی:

پدی مبارک سورت کی ذریم او ډیر مهم شی چه کله د فتحی نه د مخه او کله هم وروسته مجاهد او مسلمان ته نصیب گرځی هغه د مومنو انسانانو د حق دائری ته راتلل، او د حق د پلویانو څنگ ته دریدل دی ـ او رسول الله(ص) ته هم امر شوی چه کله دی ولیدل چه خلک د خدای دین ته ډلی ډلی راځی او حق ته غاړه ایږدی نو ته په هغه خوشحاله اوسه او د هغه قدردانی کوه (ورایت الناس یدخلون فی دین الله افواجا) ددی لوی نعمت قدردانی هم بیله د خدای تسبیح، حمد او استغفار ـ او د دوی سره په خلاصه تنده او پاک نیت چال چلند بل شی نشی کیدلای، په بل ځای کی خدای(ج) فرمائی : «هو الذی ایدک بنصره و با المؤمنین» خدای (ج) هغه ذات دی چه تا ته ئی پخپل نصرت او مؤمنانو سره قوت درکړ، پدی آیت شریف کی د خدای(ج) نصرت او د مؤمنانو ملاتړ رسول الله(ص) ته یوځای د نعمت د مقام د یادولو په ترڅ کی یاد آوری شوی دی ـ هوا د مؤمن قدر د نورو مؤمنانو سره د مینی ، ورورۍ اوملاتړ په اندازه دی ـ هغه څوک چه ډیر مسلمانان تائید وی ملاتړل یی کوی اطاعت ئی کوی

نوربیا...

سید علاءالدین «اثیر»

رهائی روان تاریخ از چنگ نافرهیخته عفریت سرخ

انسان در دائرهٔ هستی تنها موجودیست که مورد نخستین تعریف و تمجید خالق و مخلوق قرار گرفته است ، خالق به احسن تقویم سر افرازش کرده و خود ، خویشتن را به داشتن کمالات عقلی و شعوری به اوج های غرور و خود ستائی رسانده است .

به آن هنگام که چشم و گوش ، هوش به محیط و ماحول کشود ، نهوشید که بارهمه اندوختههای که مشاس نهفته و بالقوه دارد، کلید کشایش سرمجهولات را در اختیارنداشته ازهیختن توسن حکمت به هیجا کشف وشهود دچار هیجان گردیده و خویشرا محاط محیط تنگ و هید فراوان یافته ، شعله های علمی که روز تا روز ضوء آنها افزایش می یابد علت و غستن هر مستوری نه بوده است .

اگر عمر هزار کند چون وصیف که شبح در تصورش می گنجاند ومتلذذ میگردد ازدانش ورمز کشف مجهولات بهمان اندازه بهرمور و لذت مند می گردد ، انسان در سیر انفسی توانائی دریافت و شناخت آنچه هست را ندارد و در سیر آفاق که کوتاهی نظر و تیرگی های غین دغیم ممتد میدان هستی ـ فایح را مجال نخواهد داد تا روح سریابی و راز کشائی مجهولههای بشری را بمشام اش برساند،روفاه جهی باغیلتهای متنوع ترصد و متفحص است تا مرغ دل دانش پژده راز جورا از غصن اصله دانش شکار کند ، مصائب طریق راه یابی فراوان وفایق آمدن بسی دشوارومشکل است ، که در کنگشستان کنکاش خبرگان هم سواد ازسهولت موجود نیست، آنچه گفته آمد شعر آن نیست که علم و دانش در فراسوی سم الخیاط قرار دار و جمل دانش پژوه را بدان معبر صلاحیت عبور نه .

در بحر بیکران علم و دانش فرضههای وجود دارد که میتوان به قصد سیر و سلوک ازآن استفاده جست و سوار کشتی تجسس و تفحص گردید ، دجله از دجله ها را شکافت و در فرجام صدف از صدف های علم و دانش را شکار و مروارید مطلوب را بچنگ آورد ، علیرغم آنکه آریغ نهنگ تهدید کنوب آوریست زلزال قلب کامجو ، بسر آمدو بسر رفت و سلسله این کاروان لا ینقطع درجریان است چنان آرام و منظم که زل آن در تصور نگنجد ، گوئی که روندگان به مقام سنی ای روانه اند که اهمال لحظهٔراخسران ابدی می پندارند، جنبندگان این سفرزاد در راحله دارنددر خود شان و مقام شان مقام همان مقدرات است که قلم ازل در سوانحش نگاشته و در اندراج خلقت نصب داشته است ، در مساع های کاوشگران علوم طبیعی (علوم فلسفی که فهم آن باطبیعت اندیشه انسان مربوط بوده و آن اندیشه و پژوهش محک امتیاز خط از صواب می باشد) غروران شعبده باز کمین کرده اند تا با شعبده بازیها پژوهشگران را بفریبند ، شعبده بازان سود د هر را زیان و زیان ها را سود جلوه داده اند خوش بخت کسی،گروهی، ماتی که چشم شان را تفنن شعبده بازیهای دنیای فانی تسخیر نکرده و از رتق و فتق آن متاثر نگردیده اند تنها کسی به گروهی و ملتی در میدان رجاف برگ برنده وسعادت را دریافت خواهد داشت که دنیا را تنها مساغ برای عبور و مخزن توشه برای سفری که در پیش دارد ، بحساب آورد ، چه آنجا آه ، فیر و ناله و ندامت دردی را علاج نخواهد کرد ، انسان که جهل تعقیبش می کند و حس کنجکاوی دانش خواهی اش زبانه میکشد و رج های از مجهولات در پیشاپیش وی قرار دارد ، اگر مجهول را معلوم دارد اگر مجهول را معلوم دارد تنها چیزیکه آشکار

صفحة مفقودة

د محمد زمان مزمل لیکنه

داستانبول تیر مجد پاتی پیغور

پوښل شوی درباری چوتره لیدل کیده چې د پوښتنې وروسته پوه شوو چې دا هماغه دربارونه دي چې انسان به هغو ته په واسطو او تکلیفو ځان رسولای شو او کله به چې انسان هم دغه دربارو ته راورسیدو به پوره ادب او ویره به ولاړ و، ولې نور دغه تاوده دربارونه ساړه ووځوسیلانیان هغه هم د پیسخند په دو د ددې دربار په وړاندې څو لحظې دریږي او تیریږي.

کله چې له وړاندې لاړو واقعاً د قصرونو په ابادي کې پخوانیو ترکانو ځان ښه ستړي کړي و، د یوی مانۍ په تل کې چیني نفیس ظروف ایښودل شوي وو چې زما ملګري د هغو په لیدو وویل کله چې خبره دلته رارسیدلې دبدبه او سلطنت هم له منځه لاړ.

کله چې د ماښام وخت نژدې وه د صحابه ؤ او خلفاؤ په فاتحانه میراث او اثارو ژر ژر ګرځیدو هلته مو هغه توری ولیدلې چې د دنیا لوئی لوئی امپراطوری یې رنګی کړي وې اوس په موزیم کې د تیټ همتو د ننداری نه پرته هسې موزیم ته د راتلونکو کاروانو په مخکې زماني ځولنه کړي وې.

د ال عثمان د ژوند او دبدبې وسائل دومره پریمانه ووچې انسان یې د اوسنی‌مغرورمانیت د بدانجام په برخه کې پوره باوري کاوه د موزیم په غربي برخه کې یوه تعمیر ته ولاړو چې هلته بلاطلایي او صدف فالتو تختونه د سیلانیانو د ننداری د پاره ایښودل شوي وو، ولې د مغرورو تا جدرانو پته هم نه لږیده ماسي ملګري ته وویل بلاتختونه فالتو پراته دي راځې چې یو یاد وه (. . .) نقل کړو، زما بل ملګري پدې خبره مسک شو او پوه شو چې زمونږ روان جنګ دي خدای نکړي چې د داسې غولیدلې منزل په سرحد کې ودریږي، نوره حوصله هم نه وه. وقت هم، په پوره بیړه مود ماښام

د لمانځه په خاطر دغه ساره درباروته او فالتو تختونه او د یوه ستری دوران د عظمت او ذلت وسائل د خدای د یاد په خاطر هماغه غربی بی باکه سیلانیالو ته پریښودل او په چټکی یو جومات ته ننوتو .

خو هغه لا کلاتر او سه محاصره کړی وه .

د سه شنبی په ورځ د ابی ایوب انصاری(رض) مقبری اوجومات ته ولاړو چا چی په سختو شرائطو او په عادی وسائلو د ادومره لوئی لوئ و چی لیری لیری فاصلی وهلی، د اسلام د لمړی پیړی په لمړی نیمه کی ي ځان ان دلته د بیزنطین د دبدبی د برجوری کلا د محاصری او فتحی د پاره رارسولای وه .

خدای خبرچی دی مجاهد صحابی به څومره طاقت کړی په زمکه وهلی وی او د جبارانو څومره مغرور صفونه به ي خواره واره کړی وی ! خدای ښه خبر دی چی د خدای په مینه مست ابی ایوب(رض) به د بی زنطین ددی مغرور جبار د ماتیدو په خاطر څومره جنگونه شاته کړی وی؟! حتماً هغه څه چی دازره ور او ناکراره مجاهدین د مدینی د مؤمنو یارانو را جلا کړی و هغه ددی د یوالونو او د دیوالونو د لنه پنا اخیستو طاغوتیانو د ماتولو مجاهدانه هیله وه . خو بیا هم د زاړه روم د غوسه ناک حصار بقایا ؤ ته چی استانبول ي د غیږی ته نیمه وتلی و لمړدی پروت و !

داسی ښکاریده چی د غربی مدنیت د څوو څېلی استانبول»په منځکی د محاصره فاتح د روح د خوښی په خاطر، د ابی ایوب د جومات او زیارت مناروه، د هماغه پخوانیو مجاهدینو د بلند همتّ او محاصری یاد تازه ساته، او سری پدی پوره مطمئن کیده چی د غربی مدنیت له خوا محاصره اسلام به خپله ازادی اخلی، ځکه د هغه مرقد د دیوال بهر پروت وه او د بیزنطین کلابي لاتر او سه محاصره کړی وه.

دوه قاری او دوه مدنیته :

استانبول چی د ترکیبی هیواد اروپایی برخه ده داسیا او اروپا ترمنځ د ارتباط کړی ده چی ابنائی سره جلاکوی او ددی اوبو په سرهسک پل جوړ دی ، ما او زما ملگرو هغه فاصله چی د اسلام فاتحینو څو سوه کاله وهلی وه پرڅودقیقوکی ووهله او د اروپا او اسیا په دواړو برخو سولند سیاحت وکړ، او پوه شوو چی د جهاد او سیاحت ترمنځ څو سوه کاله فاصله ده ! !

د نړی پدی سیمه کی دوه قاری او دوه مدنیتونه سره نښتی چی دی دواړو تاریخو د نړی پدی برخه کی سخت تکرولـه هم کړیدی ، بوخـل هغه لوی او حوصله ازمیونکی تکر چی د ابی ایوب نه پیل او د فاتح محمد په دوه رکعته نفل لمونځ د اسلام د بری په ویاړ سرته ورسیده، د مسیحیت او یهودیت هغه انتقام چی د مجهول الهویته اتا تورک په لاس ي د سلطان عبدالحمید د مدنیت ساز خلافت اوشریعت په الغاء ي استانبول د بیزنطین نوی تهذیب ي دینه حکومت «د علمانی» ته وسپاره .

د یوی خوا سری گوری چی د بیگانه و په دام کی لویدلی اتا ترک سلطان په اروپائی سیمه کی د یو قصر نه په زور ایستلی او د بله بلی خوا ي په اسیایی برخه کی د بحر ترغاړی یوه قصر ته تبعید کړی چی بالاخره په هماغه قصر کی ئی د پلرونو په میراثی مدنیت د حسرت او ځانکدن سلگی ،

پوره غبرګ کړی د بلې خوا د
همدې قصر تر خوا د بل
تاریخي قصر د ننه چې د سلطان
له ځای سره دومره فاصله
نلري اتا ترک هم هلته د خپلو
تورو کړو له مخې د اوږد ځانکدن
میچن په سینه ګرځولي او د ملت
او تاریخ د سپکو سپورو بابتې یې
په شا کړی .

د مجاهد سوغات :

په همدې ورځ سازیګر د فاتح
په سیمه کې د سکندر د جامع
ترځنګ مو د ښاغلي اربکان سره
د خصوصي ملاقات وعده وه نور
مؤمن ځوانان‌هم‌راغلي‌وو د تعارف
وروسته حکمتیارصاحب دافغانستان
د حالاتو‌نه ښاغلي اربکان په لنډو
عباراتو خبر او په پای کې یې
هغه ته د جهاد او هجرت د ژوند
نه د عکسي یو البم ورکړ، او پخپله
یې هغه صفحه په صفحه تشریح
کړ، خوکله چې اخریني صفحې ته
چې خالي وه کوم عکس پکې نه
و ورسید اربکان ته یې وویل.

امید دی چې افغانستان ازاد شي
او بیاد کامیابي د ورځې عکسونه
درته راولیږو ترڅو هغه ددې البم
پدې سپینه پاتې صفحه کې نصب
کړی .

حکمتیار صاحب د ورسره هیئت سره په استانبول کې .

د اربکان ارزو :

د مجاهدینو او اربکان خبرو خوند
ور رنګ درلود ورور اربکان پخپلو
خبرو کې مجاهدینو ته ددې تینګار
وکړ چې د روسانو پرضد دا دروند
جهاد چې امید دی موفق شي بیا
هم دا وړوکی جهاد دی، تاسی‌مجاهدین
هغه لوی جهاد ته ښه متوجه‌اوسی
هغه چې د روسانو د وتلو نه
وروسته راځي، هلته چې د اسلام
د کامیابي او ناکامي اصلي سوال
مطرح کیږي هلته چې اسلام په
عملي ډیره کې خلکو ته ښودل
کیږي او وړاندې کیږي .

مومن اربکان چې په سیما کې یې
د ترکي مومن ملت د برم درا
ژوندي کولو هڅې قاطع او‌ځلېدونکې
ښکاریدې او رښتیا هم کیدای
شي د هغو ترکانو نه یو ترک وي
چې په کرار کرار د غربي تمدن
دربجن تغر د ترکي بعث د ضمیر
او هیواد نه تول او بیا دا میراثي
هود نوی او ځوان ترکي نسل
ته په میراث پریږدي. ډیر عاقبت
ښه‌ونکي او د ارام شخصیت خاوند
و، هغه ددې خبرې چې اسلام د
اسارت سره کرکه لري دا ثبوت
وړاندې کړ چې روسان پردې
خاطر افغانستان ته راغلي ترڅو د
اسلام مخه په بخارا او ثمرقند کې
و نیسي خوکه هر څو روسان
ددې نه ویره ساتي ، دا مشهور

حقیقت دی چی ویره خپل خاوند ته نجات نشی ورکولی، اربکان زیاته کړه: څو ورځی مخکی د گورباچوف اوریگان ملاقات تیر شو هغوی د واړو حتی د جهاد په رابطه خبری کړی، ځکه هغوی یو د بل نه دومره نه ویریږی لکه دواړه چی د اسلام نه ویره ساتی.

حکمتیار وویل د انگلیسانو سرنوشت په افغانستان کی اوس د روسانو انتظار باسی حتماً به روسان په افغانستان کی ماتی خوری ښاغلی اربکان کله چی د ترک او روس تیری ماضی ته پدی رابطه اشاره کوله وویل: موږ هم په تیر دوران کی د روسانو سره دکریمیا ایالت د والی په خوله او مکاتبه رابطه ساتله، مرکزی حکومت داد ځان د پاره کسر شان گانه چی له روسانو سره مستقیمه مکاتبه ولری، زه باور لرم چی حتما به روسان دی اصلی حجم ته راگرځی او ارزو لرم چی د افغانستان مجاهدین به د روسانو څخه د جزئی په بدله کی محکوم ترکستان بیرته واخلی.

استانبول هم ویاړهم پیغور:

څو ورځی پرله پسی مو د استانبول د عظمت ډک تاریخ او مدنیت په سولیدلی زړه ولید انسان هلته عجیب تناقض رانغاړی کله چی می په استانبول کی د خلکو د ژوند او ددی تاریخی ښار د پرونی مجد نه څه ولیدل او څه واوریدل کتې مټ می د «مکتوب» د اسلامی مجلی هغه عنوان سترگو ته ودریده چی لیکلی وه.

«داستانبول په کوڅوکی سړی شرمیږی»

واقعاً کله چی د ایمان رڼا د انسان په زړه او ضمیرکی ځای ولری خبره همداسی ده د یوی خوا د هری کوڅی په سر اواخر کی هسکی مناری او ښکلی جوماتونه د سړی سترگو ته دریږی، دو مره ډیر جوماتونه چی نور سړی نشی کولای و پوښتی چی دا جومات چا جوړ کړی او هغه چا؟ دا هسکی هسکی او د معماری په ډیر دقیق طرز دریدلی مناری او جوماتونه د یوی خوا سړی د اسلام هغه پرونی تاریخ ته راستنوی چی د اروپا پدی برخه کی یی کفر او د خدای دښمنان په گونډو کړی هغه ورځی د سړی په یاد وی چی د عثمانی خلافت په غیږ کی د بالقان د جزیری هیوادونه. البانیا د یوگوسلاویا او روس څنی برخی عربی ټوله نړی تر المغرب پوری د همدی سیاسی مرکز نه اداره کیدله، داسی فکرکوی چی استانبول د عظمتونو ځانگووه او د مسلمان نسل نه هیریدونکی ویاړ، ولی د بلی خوا د همدی تاریخی او په جوماتونو ډک ښار په کوڅو او واټونوکی د لاروی سترگی او نظر په داسی ترکی نجونو او هلکانو لویږی چی د غرب او هالیوډ په اخرین موډل یی ځان سنبال کړی، سرلوڅی او ځان لوڅی مست او بی پروا روان وی فکر کوی چی په استانبول کی نه د لندن یا پاریس په کومه برخه کی روان یم، داسی پرطبیعی ډول په کوڅو او واټونوکی کی هوښیار او معتمد لاروی نشی کولای دکوڅو او سړکونو په سرد هسکو منارو ویاړ د کوڅو په د ننه کی د بی حیا مدنیت په لاس کی د مسخره شو یو نجونو د سپک پیغورنه جلاووینی.

نوربا...



ژباړه : محمد خليل

بنيادي عيبونه او دهغي اصلاح

درنو لوستونکو !

دغه مضمون د مولانا ابو الاعلى المودودي(رح) پی مقاله اثر «اسلامی تحریک کا کامیابی کی شرایط» يوی برخی ژباړه ده چی د اسلامی تحريک د غړو پر بنيادی عيبونو او د هغی په سمون او اصلاح بحث کوی ، هيله من يو د اسلام د لاری داعيانو او غازيانو ته د نفس په اصلاح کی ګټور ثابت شی . «اداره»

کبر او غرور : لومړی او ترټولولوي عيب چی د هری نيکۍ جرړی له بيخه وباسی ، کبر ، غرور ، ځان منته او لويي ده دا له سره شيطانی جذبه ده چی د شيطانی کارونو لپاره موزونه ده د نيکی يو کار او عمل هم له دی سره نشي کيدای ځکه چی لويي يوازی د لوی خدای (ج) لپاره مناسب ده ، په انسان کی لويي بيله دروغ نه بل څه نه ده ، کوم سړی او يا ډله چی د دروغو په جال کی نښتی وی هغه د الله(ج) له هرډول مرستی او تائيد نه بی برخی پاتی وی،ځکه چی د هغه (ج) په نزد د خپلو بندګانو په منځ کی ترټولو بدشی لويي ده ، نتيجه يی داکيږی چی په دی بيماری کی اخته خلک د سمی لاری له هدايت نه بلکل بی برخی پاتی شی ، هغه پرله پسی د بی عقليواوګناهونو مرتکب ګرزی تردی چی په نتيجه کی له ناکامی سره مخامخ کيږی ، د دی نتيجه دا هم کيږی چی خدادی (ج) له مخلوقاتو سره په سلوک او رابطه کی چی هرڅوله هغه دکبر او لويي اظهار کيږی همدومره يی پرخلاف نفرت را ولاړيږی ، تردی چی د خلکو په نزدمبغوض او رټل کيږی اوددی ورنه پاتی کيږی چی اخلاق اثريی په خلکو کی پاتی شی .

د خيرکار کونکو ته دغه بيماری له څو لارونه راځی، کم ظرفه خلکو ته دغه بيماری په دی لاره راځی چی کله د دوی دينی او اخلاق حالت د شاوخوا تولنی په نسبت ترڅه اندازی ښه کيږی، او د قدروړ څه کارونه هم ترسره کوی خوکله چی اعتراف يی د نورو خلکو له ژبو څخه اوريدل کيږی نو شيطان د هغو په زړونو کی وسوسی اچول پيل کړی چی ته خو اوس ډير لوی سړی شوی يی او د شيطان په لمسون هغه خپلی خبری اوکړه وړه په خلکو پورته ګڼی ، په همدی ډول هغه عمل چی د نيکی په انګيزه او جذبه پيل شوی وی ورو ورو په غلطه لاره بانـدی رواليږی ، دوهمه د سرايت لاره يی دا ده چی يو څوک په نيک، نيت د ځان اودخدای(ج) د مخلوق د اصلاح لپاره زيار باسی کله يی چی په شخصيت کی څه ناڅه بهبود راځی او تر يوه حده د نورو خلکونه ممتاز شی او څه ناڅه يی خدمتونه هم د قدر وړشی دا داسی امور دی چی فطرتيی د احساسولونه پرته نه شی پاتی کيدای او خامخا يی حس کوی ، د نفس يوه ذره لمسون بيا هغه په غـرور او تکبر بدلوی چی ډير وخت داسی صورت مخی ته راځی چی کله مخالفين د هغه په مخکی څه خندونـه را پيدا کوی نو هغه خپلو کارنامو سند د خلکو په مخ کيږدی؛ که څه هم د هغه خبری رښتيا وی خوهدهد نيکيو د ښودلونه خالی نه وی په دی کی يوه ذره بی اعتدالی هم سړی د جايز حدنه لری کوی او د تفاخر حدودو ته يی رسوی چی دا ډير خطرناک حالت دی ، او چارهيی ضروری ده په لاندی ډول کيدای شی د دغه سزمنی بياری چاره وکړو .

د بنده‌ګی احساس :

هر تنظيم او هر فرد تـه پکار دی چی په دی خبره ځان پوه کړی چی څوک د زړه له اخلاصه د تولنی د اصلاح لپاره قيام کوی نو په هغه کی به نه يوازی دا چی د بنده‌ګی احساس موجود وی بلکی په زړه کی بـه دا

احساس همیشه ورسره تازه او ژوندی وی چی لویي یوازی د لوی خدای (ج) د ذات لپاره مناسبه او خاصه ده ، د بنده مقام له عاجزی او احتیاج پرته بل څه نه دی ، که په چاکی کوم ښه والی موندل کیږی نو هغه د الله (ج) فضل دی ، د فخر پرځای د شکر ځای دی‌په‌دې‌نعمت باندی دالله(ج) حضور ته د شکرانی پځای لا عاجزی پکار ده ، او دغه لړغوندی نیکه سرمایه هم باید د خدای (ج) په لاره کی په کارو لوییږی‌ترڅو الله (ج) نورهم‌مهربانی‌وکړی او دغه‌سرمایی ته ترق ورکړی ، نیکی‌کول او بیا په هغه مغروریدل په اصل کی هغه په بدی بدلول دی او دا د پرمختګ په ځای د تنزل لاره‌ده.

۲- د نفس سره حساب :

د بندگی له احساس وروسته چی انسان د لویي او کبر نه ساتی دوهمه لاره د نفس سره جساب دی ، څوک چی د خپل نفس سره محاسبه کوی او د خپلو ښیګنو سره سره هغه خپلی سهوی او خطا وی شمیری او وینی نو هغه هیڅکله هم د ځان خوښونی‌او تکبر نه ښکار کیږی .

۳- په نورو کسانو نظر :

د دغه غلطی انگیزی د مخنیوی لپاره یوه بله لاره هم شته هغه دا ده چی انسان باید یواځی تیټ والی ته و نه گوری د چا نه چی هغه ځان لوړ او اوچت گنی ، بلکی د اخلاقو هغو او چتو رتبو ته دی هم وگوری چی د هغو په وړاندی تر اوسه ډیر تیټ پاتی دی ، په اخلاقی او روحانی درجو کی بی شمیره تیټی درجی هم شته او لوړی هم ، ترټولو بدسری هم که ټیټو درجو ته پام وکړی نو دومره ډیری به‌یي وویني چی په خپل ځان به فخر وکړی ، د همدی‌فخر نتیجه بیله دی نه چی سړی پخپل حال‌مطمئن و ډاډه شی بل څه نه ده ، دښه والی زیار خو پریږده بلکی شیطان دا ډاډ ورکوی‌چی تراوسه ټیټو درجوته د رسیدو او نزول‌لپاره ډیر وخت دی ، دا فکر یواځی هغه‌خلک کولای شی چی د خپل پرمختګ دښمن وی د ترق ریښتونی مدعیان تل د ټیټو درجو پرځای لوړی او اوچتی خواته گوری ، چی هری یوی ته د رسیدو سره سم نور لوړهم تر نظر ورځی چی د هغو په لیدلو سره‌یي د فخرپرځای د خپلی پستی اوټیټوالی‌احساس په زړه‌کی تلوسه پیدا کوی اوهمدغه‌تلوسه‌یي د نور او چټیدو لپاره لاهڅوی ، له دی‌ټولو سره دا هم ضروری ده چی په دی معامله‌کی تنظیم تل د تیارسی په حالت کی وی ، په خپله دایره کی د کبر ، لویي ، فخر اوغرور د ښکاره کیدو څخه خبر واخلی او په وخت بی چاره وکړی ، **مگر د چاری هلی ځلی بی داسی وله شی چی په خپلوکی دمصنوعی انکسار او نمایشی تواضع بیماری پیدا شی د کبر له دی بدترین شکل بل لشته چی د مصنوعی او نمایشی تواضع پرده وربالدی غوړیدلی وی .**

ځان ښودنه اوریا

دوهم لوی عیب چی د خیر د جرړو په ایستلو کی له کبر نه کم نه دی هغه دادی چی سړی لیکی د ځان ښودنی او نمائش لپاره وکړی ، او مطلب یي یکی له خلکو نه د تحسین‌او شاباش اخستل وی، دا کاریواځی د خلوص څه چی د ایمان ضد دی‌څکه‌ورته پټ شرک ویل شویدی ؛ په خدای (ج) او آخرت باندی د ایمان لازمی غوښتنه دا ده چی انسان یوازی د خدای (ج) لپاره کار وکړی او له همغه خدای (ج) نه د اجر امید وکړی د دنیا پرځای د آخرت لوری‌ته نظر وکړی .

ریا کار انسان د خلکو رضا خپل‌مقصود گرزوی او له خلکو نه د اجر غوښتونکی‌وی او په دنیا کی دخپل عمل اجر د نامه‌شهرت، ځان ښونی ، اثر او نفوذ ، جاه او جلال په شکل لیدل غواړی ، چی معنایي دخدای(ج) مخلوق له الله (ج) سره شریک گرزول دی او یایي د هغه سیال‌گڼلی دی، ښکاره خبره ده چی په دی صورت کی که انسان هرڅومره د الله د دین خدمت‌وکړی هم نه‌دخدای(ج) لپاره دی او نه د هغه د دین لپاره او نه‌یي شمار د خدای (ج) په نزد په نیکوکارونو کی کیږی ، یوازی دانه دی چی دا ناپاکه او ناوړه جذبه د نتیجی په اعتبار عمل ضایع کوی بلکی په حقیقت کی له دی سرمنبه کول ناممکن دی ؛ د دی جذبی فطری خاصیت دا دی چی سړی له کار نه د هغی مشهوریدو ته ډیر اندیښمن کوی ، هغه کار خوښوی‌چی ډنډوره‌یي په دنیا کی ووهل شی شاباش او آفرین ورباندی وکتی، پټ‌کارچی‌له‌خدای(ج) نه یي پرته چاته پته نه وی د هغه په نزد کار نه دی، چی په دی ډول د سړی د عمل دایره یوازی په هغو کارونوکی‌چی‌مشهوریږی محدوده پاتی کیږی چی دخپل‌مقصد حاصلولو څخه وروسته‌ئی پخپله هم له هغی سره کومه دلچسپی پاتی نه شی ، د کار پیل که څه هم په ډیر خلوص شوی وی خو د دغه بیماری په لګیدو خلوص په دی ډول‌خوری لکه«وچکی»چی د سړی **د ژوند قوت ختموی او خوری‌یي، بیا ده ته دا ممکنه نه وی چی** په پټه کی به هم د خلکو تر نظره نیک پاتی شی او کار دی د فرضیت په اساس ترسره کړی، بلکی هغه هرڅه د خلکو د شاباشی‌او د هغوی د نمایشی قدر په تله‌تلی،په‌هرمعامله کی یوازی دی ته‌گوری چی دا‌یا کوم روش خوښوی، او د داسی‌کارتصور هم ورته‌ناممکن دی چی هغه په دنیا کی د خلکو ترنظرښه‌نه وی اگر چی زړه‌یي په کامله ایمانداری سره د هغه کار د کولو جوازهم ورکړی .

په گوښو کی ناست د الله الله ویونکو خلکو لپاره د دی فتنی نه گوښه کیدل‌آسانه دی، خو هغه خلک چی د ټولنی په متن

کی په اصلاحی تنظیم او عمل لاس پوری کوی ، هغوی هروخت په دی خطره کی مبتلاوی چی‌که په د دغی «محرق» میکروبونه د هغه په بدن کی نفوذ کوی ، په هرحال ورته د هغو کارونو کول هم ضروری دی چی د خلکو په نظر کی چام دی او هغو ته د خلکو همفکره کولو او د هغوی د مرستی حاصلولو زیارهم ضروری دی ، هغه په دی خبره هم مجبور دی چی د خپلو کارونوراپور نشرکړی ، څه ناڅه خدمتونه یی په دی‌لاره کی وی چی ورته د خلکو مراجعه زیاته شی او د ژبو څخه د ځان لپاره د تحسین کلمی واخلی ، هغه له مخالفتونو سره هم مخامخ کیږی چی د خپلی دفاع لپاره اگرکه دزړه له‌کومی له وی له مجبوری نه د خپلوښو ارخونو ښکاره کول ورته ضروری وی په دغو حالاتو کی داخه آسانه کار نه دی چی شهرت دی وی اثر او موجبه‌یی دی له‌وی ریا او ځان ښکارول دی وی مګر د هغه لپاره د کار کولو بیماری دونه لګیږی ، مقبولیت دی وی مګر د هغه مقصود ترسره نه شی ، د خلکو شاباس او تحسین دی وی مګر د دی د حصول فکر او پروا دنه وی، د ریا د پیدا کیدلو اسباب دی څلورو وارو خواوته لنګر اچولی وی مګر د ریا نه دی سری خپله لمن پاکه وساتی.

د دی لپاره د ډیری څیرنی ، ډیری توجه او ډیر زیار ضرورت دی په دی معامله کی لیږغوندی لتی او سستی‌بدن‌ته‌دریادمکروبونو لاره خلاصوی چی په لاندی‌ډول‌یی له شرنه ځان ژغولای شو :

انفرادی کوښښ

له دی بیماری نه د بچ کیدلو لپاره‌انفرادی زیارهم په‌کار دی او تولنیز هم، د انفرادی کوښښ طریقه دا ده‌چی سړی د څه ناڅه د داسی نیکو اعمالو التزام وکړی چی زیات نه زیات په پټی سره وشی او تل د خپل نفس‌حال اخستلو ته وروسته‌وګوری‌چی‌د هغه زیاته دلچسپی په هغو پټونیکیوکی‌محسوسیږی ... یا په هغو نیکو کی چی د عامو خلکو په نظر کی راځی ، که چیری دوهم صورت وی نوسړی د سمدلاسه پوه شی چی پکی ریا اثر کړیدی او د الله(ج) په مرسته دی په پوره قوت د دغی کیفیت نه د نفس بدلولو کوښښ وکړی .

تولنیزی هلی‌ځلی :

د ریا سره تولنیزی مبارزی ، ګډهاند او ډله ایزی‌هلی‌ځلی په دی ډول دی چی‌تنظیم پخپل چاپیریال‌کی‌ریا کاراله الګیرنی‌اورحجاناتو ته هیڅری ځای ورنه کړی په خپلو کارونو کی اظهار او اعلان یواځی په خپلو حقیقی ضرورتونو پوری محدود کړ شی که چیږی په تنظیمی کارولو دشوق او نمایش لیږغولدی اثر هم محسوس شی لو سمدلاسه دهغه‌مخینوی دکړی، په تنظیمی مشوروکی د هیڅ چیری دا خبره کنایتاً او اشارتاً ولنشی چی فلانی کار څکه کول پکار دی چی هغه د مقبولیت ذریعه ده او فلانی کار دی څکه ونشی چی خلك دا کار نه خوښوی، د تنظیم داخلی چاپیریال ته داسی‌پکار دی چی دخلکوتعریف او مذمت دواړو نه دبی پروا کارکولوذهنیت پیدا کړی او دی ذهنیت ته دی داسی وده ورنکړی چی په غندلو بی‌پروا اودل شکسته شی او له تعریف او ستاینی له‌قوی‌اوخوښ له دی سره که چیری ځنی افراد په تنظیم کی داسی و موندلی شی چی په هغوی کی دریابوی محسوسیږی نو د هغوی د همت‌لوړ ولوپرځای‌دهغوی‌دعلاج کولوفکرضروری‌دی.

بدلنتی :

دریم بنیادی عیب بدنیتی ده چی‌هیڅ قسم وریاندی د خیر مانی له شی جوړ یدلای ، د خیر کار یواځی په داسی خالص نیت سره کیدای شی چی په دنیا کی نیکی خوره شی اوموږ د دی لپاره هلی‌ځلی کولو سرمدالله(ج) په نزد سرلوړی و اوسو ، پدی نیت کی باید خپل ذاتی یا اجتماعی غرض موجود نه وی، دنیا وی فائده په لظرکی نه وی‌تردی پوری چی د دغی خیر مقصد لپاره بغیردڅه تأویل نه خپل ځان دڅه ډول‌ګټی‌غوښتونکی یا هیله من نه وی، دا شانته هره یوه طمعه له یواځی دا چی د خدای(ج) په نزددسړی اجر ضائع کوی بلکی په دنیا کی هم‌په‌ناوړه نیت سره کوم صحی کار نه شی کیدلای نیت خرابی خامخا په‌کاز باندی اثر آچوی‌اودکار له خرابی سره په جدوجهد کی بریالی‌کیدل هم نائمکن وی چی اصل‌متصدئی د بدیولری کول او د هغه پرځای ئی نیکی قائمول دی.

دلته بیا همغه‌کړاو مخی ته راځی‌دکومو یادونی چی مونږ پورته کړیدی د جزوی‌نیکی لپاره د کارکولو په صورت کی دنیتپاکول څه سخته خبره نه ده له الله(ج) سره لیږ غوندی تعلق او ربنتونی جذبه هم ددی‌لپاره کافی کیدای شی، لیکن دکومو خلکو مقصد چی د تول هیواد د ژوندانه نظام اصلاح کول وی او د هیواد تولی چاری‌ئی د دین په بنستونو باندی درول غواړی ، نو د دی مقصد دحصول لپاره یواځی د افکار و تعمیر یا یواځی تبلیغ او تلقین ، یایواځی داخلاقو د اصلاح لپاره کوښښونه کفایت نه کوی، بلکی ورسره هغو ته خامخا پکار دی چی د هیواد د سیاسی نظام مخ هم د خپل‌مقصد لوری ته په مستقیم یا غیر مستقیم ډول سره د اړولو جدوجهد وکړی، ترڅو چی اقتدار یا په مستقیم ډول د دو په لاس کی راشی‌یاد داسی ډلی په لاس کی ورشی چی دوی ته د هغه ملاتړ حاصل وی .

د دواړو صورتونو څخه چی‌هر یو صورت وی د اقتدار تصور د سیاسی نظام له بدلون څخه جدا نه شی کیدای ، اوس د ژور دریاب په منځ کی د دریدلو سره هم د لمن نه لوندولو معامله ده چی یو تنظیم دا کار

د زړه له کومې وکړي او بیاهم ددې تنظیم
د کارکوونکو انفرادي نیتونه، او د ټول تنظیم
مجموعي نیت، د خپل ځان لپاره د اقتدار غوښتلو
خیرې پرې نږدي دا کار له نفس سره ډیره لویه
مجاهده د زړه او روح ډیره لویه تزکیه غواړي.
پدې معامله کې هم نقطه نظر پیدا کولو
لپاره په ظاهره ددو همشکلو شیانو جوهري
فرق په ښه شان ذهن کې کینول پکار دی.
دا خبره خو ښکاره ده چې په ټول ژوندانه
نظام کې تبدیلي غوښتونکي د نورو تبدیلیو
سره سره په سیاسي نظام کې هم له تبدیلي غوښتلو
څخه په هیڅ ډول لاس نه شي اخستلای، او
دا هم ظاهره ده چې د سیاسي نظام تبدیلي
متاسونه د دې کار غوښتونکي دي چې
په خو اقتدار د هغوی په لاس کې وي، او یا
د هغوی د خوښې هغو خلکو ته منتقل شي چې
د دې تبدیلي هیله من وي، لیکن د خپل ځان
لپاره اقتدار غوښتلو کې او د خپلو اصولو او
نصب العین لپاره په اقتدار غوښتلو کې ډیرلوی
فرق دی، د اصولو اقتدار اګر چې عملاً
د اصولو علمبردارانو اقتدار وي بیاهم
د اصولو اقتدار غوښتل او د دې علمبردار
خپل ځان د پاره اقتدار غوښتل په حقیقت کې
دوه جدا شیان دي چې پکې د روح او د جوهر
ډیرلوی فرق دی، د نیت بدوالی په دوهم
شي کې دی نه اول کې، او مجاهده نفس چې
د کوم شي لپاره ضروري ده هغه دا ده چې
ورومبني شي لپاره د سرور کولو په صورت کې
هم د دوهم څیز احساس قدر پی هم په زړه کې
را نه وستلی شي، د نبي اکرم ﷺ او د هغه
اصحابو مثال زموږ په مخ کې دی هغوی
د مجموعي نظام ژوند د بدلولو او د اسلام
په اصولو قائمولو لپاره جدوجهد کړیدی،
دا څیز د سیاسي غلبې او د اقتدار
غوښتونکی وه ځکه چې په پوره ډول ددین
غالبول لدې نه پرته ممکن نه وه او عملاً
د دې هلو ځلو په نتیجه کې اقتدار د هغوی
لاس ته هم راغی لیکن د دې سره سره کوم

ایماندار سړی دا شک قدري هم نه شو
کولای چې د هغوی د جدوجهد مقصد خپل
«اقتدار» وه د خپل ځان لپاره اقتدار
غوښتونکو څخه د تاریخ پاڼې ډکې دي په
تاریخ کې د هغو لټولو څه ضرورت نه دی
ځکه، چې اوس هم زموږ په مخ د نیا کې ډیر
موجود دي د اقتدار لاس ته راوړونکو که
عملاً دیوې واقعي په حیث سره وکتل شي نو
ددواړو ډلو ترمنځ څه فرق نشته، لیکن
د نیت په لحاظ سره په دواړو کې عظیم الشان
فرق دی پدې فرق باندې د دواړو کردار

د هلو ځلو دوخت کردار هم او د کامیابۍ د کردار
هم نه منکر کیدونکی شهادت او ګواهي
ورکوي، کوم خلک چې په رښتوني زړه د اسلام
د اصولو مطابق د ژوندانه نظام ټول اقتدار
غواړي هغوی ته پکار دي چې فرد فرد هم
دا فرق ښه و پیژني او خپل نیت سم کړي
او د هغوی تنظیم هم په مجموعي ډول ددې
کار کوښښ وکړي چې د خپل ځان لپاره
«د اقتدار» نیت په هیڅ صورت کې د دوی
په چوکاټ کې ځای پیدا نه کړي.

رشک بهاران سبز

و امیدواریم روزی به یمن ایثار
و قربانی بهاریان قهرمان فلق تابان
«بهار ما» قلب تیره پائیز و پائیزیان
شب‌گرا را بیشگافد و زغن زاده‌گان
سیه دل شکست خورده و شرمسار
سرزمین شهید پرور ما را ترک نمایند.
و آنگاه !!

خورشید جهانتاب بهاران «بهار»
بر کشور خونین کفنان جاویدانه
خواهد تافت و چلچراغ فروزان
لاله های داغدار برفراز گور رفته‌گان
وفامند ما عاشقانه خواهد سوخت !!

* * *



رښتيني اتلان

يدأب فيها قائما وقاعداً
ومن يرى عن الغبار حائدا

ژباړه : څوک چې په ناسته او ولاړه د جومات په جوړولو لګیاوی ، له هغه چا سره هیڅکله برابر نه دی ، چې ځان له خاورو او د وړونه ساتی».

عمار رض چې د جومات په یوه کونج په‌کار بوخت و، همدا شعرونه یې په لوړ آواز ویل ، د پیغمبر اکرم (ﷺ) له یارانو ځنې یوکس داسی وانګیرله ، چې ګنې عمار په ما پورې څه وایي ، پرې و زبرګ شو او ستغې سپورې‌یې ورته وکړې ، رسول الله (ﷺ) په غوسه شو ويې فرمایل :

«له عمار رض سره څه کار لرې ، عمار دې جنت ته بولي او ته‌یې دوزخ‌ته.! عمار رض ما ته د دواړو سترګو په څیر ګران دی» .

ښکاره ده چې پیغمبر اکرم (ﷺ) ته یو مسلمان تردومره حده ګران وی ، دا ددې نښه ده ، چې د هغه ایمان ، د نفس لویښت ، د چال چلن سمون او له خدای (ج) او رسول (ﷺ) سره‌یې مینه تر بشپړتیا رسیدلې ، او د ازمیښت له بټۍ نه روغ او سرلوړی وتی دی ، عمار هم هغه‌داسې و .

خدای (ج) ورته په نیکۍ هدایت کړی و ، او په ایمان او اعتقاد کې دومره رسیدلی و، چې رسول الله (ﷺ) یې ایمان ستایه ، او د ملګرو ترمنځ یې بیلګه او ساری ښوده فرمایل‌یې :

«د عمار پرپله لاړ شی» .

مؤرخان عمار رض داسې را پیژنی :

لوړ ، دنګ سړی و ، آبی رنګه سترګې یې وې ، مزبوت او غښتلی و ، غلی و او کم ګړیده .

اوس به ووینو ، چې د دغه دنګ ، او لږ ګړیدونکی اتل ، د آبی سترګو او لویې سینې د ښتن ژوند څنګه تیر شو ، هغه اتل چې د ځورونو لړزوونکیې نښې یې لا تراوسه پربدن پاتې وې ، د ده د ارپانوونکې تینګار او ځانګړې لویښت مسند ګڼل کیده .

ووینو چې د رسول الله (ﷺ) صمیمي ملګرې او رښتیني مسلمان او بې ساری سرښندوی څرنګ تیرشو؟

هغه په ټولو جنګونو کې د رسول الله (ﷺ) ترڅنګ توره چلوله، او په بدر، احد، خندق، تبوک او نورو جنګونو کې يې برخه درلوده.

د رسول الله (ﷺ) تر رحلت وروسته يې هم له کفارو سره په جنګونو ګډون کاوه، له ايران او روم سره د مسلمانانو په جنګ کې به په لومړۍ سرکې ولاړو، عمار رض پر زړه وری سرتيری چې د توری ګوزارونه هم يې نښې نه لګيده او امانتکاری سربيره يو پرهيزګار او درونډ مسلمان ګڼل کيده، چې هيڅ راښکون او ميل نشواى کولای، چې د خدای (ج) له لاری يې واړوی.

عمار رض د حضرت عمر رض د خلافت پروخت د هغه له خوا **دکوفې د والي** په توګه او «**عبدالله بن مسعود** رض» د کوفې د مالي مسئول په توګه وټاکل شول.

حضرت عمر رض دکوفې والو په نامه يو ليک واليکه، چې د نوی والی په توګه يې د هغه د تقرر داسې زيری ورکړ:

«عمار ياسر رض مې تاسې ته امير او ابن مسعود رض مې معلم او وزير وټاکه. دا دوه کسه د رسول الله (ﷺ) خواږه ياران او په بدر جنګ کې له ګډون کوونکيو څخه دی».

عمار رض په خپل منصب کې د اسلامي ښوونو له مخې چلن کاوه؛ خو د ده دا کړندود (طرزعمل) پرځينو دنيا پرستوګران پريووت نژدی و، چې د ده پرضد توطئه او بغاوت وکړي.

د عمار رض حساس او ستر منصب نه يواځې د ده د لويي او تکبر لامل کيده نه، بلکې د ده پر تقوی او زهدي زياتوب راووست. «ابن ابي هذيل چې په کوفه کې د عمار رض له همعصرو څخه و وايي:

«عمار رض به په کوفه کې د خپل ولايت پر وخت با درلک اخيستل،،و به يې تړل او په شا به يې کاله ته وړل».

يوه ورځ په کوفه کې د ولايت په شپو کې ورته د چم ګاونډيو سړی «غوږ پو چی» ووايه، او په هغه غوږ پوری يې ورته ملنډی وکړی، چې په «يمامه» جنګ کې د دشمن په ګوزار پری شوی و؛ خو ده سره له دی چې د ښار د چارو واکې يې پلاس کې وی، ورته ووېل:

«زما په هغه ښه غوږ پوری دی ملنډی وکړی، څکه همدا غوږمې د خدای (ج) په لار کې پری شوی دی».

هو هغه خپل غوږ د يمامی جنګ په ورځو کې چې د خپل عمر له خوږو ورځوڅخه يې ګڼله، له لاسه ورکړ.

دا ښينه هغه وخت وشوه، چې دغه لوړدلک، زړه ورواومېړنی اتل دبريښنا غوندی د «مسليمه کذاب» لښکريان پرڅمکه را پرځول او د توری له څوکې يې مرګ څځيده، هغه به چې وليده، چې مسلمانان غړند دی، د سر تيريو په ليکو کې به يې چغه کړه، او جنګ ته به يې وهڅول، د اسلام لښکر به د ده په تودو ساند و او کوکو له ځايه پاڅيد او پرغليم به ورشنی شول.

«عبدالله بن عمر» وايي.

د يمامې جنګ پر ورځ مې عمار (رض) وليد، چې پر غټ کټ ناست دی، چغې وهی: «ای مسلمانانو! له جنت نه تښتیء؟ زه عمار بن ياسر يم، ما ته راستا نه شیء ...»

«دا وخت مې وليده، چې د عمار رض غوږ پری شوی دی، او اخوا د ځوايې ټوپونه وهل».

هر څوک چې د ستر پيغمبر محمد ﷺ، دبشری

تولنی د لارښود او معلم په باب په اوږو کی څه شگه لری ، د هغه (ﷺ) د دغه شان پیروانو او یارانو په وړاندی دی ودری او ځان دی وپوښتی .

آیا له گران پیغمبر او د بشریت له ستر لارښود پرته څوک کولای شی ، داسی غوره وگړی وروزی؟ داسی وگړی ، چی کله چی د خدای (ج) په لار کی د جنگ ډگر ته ورکوزیدل ، داسی پرمخ تلل ، لکه چی د مرگ په لټه کی وی ، نه د بری ، او چی کله به حکومت او واک ته رسیدل ، د کونډو میړی یی لوشلی او د یتیمانو ډوډی یی پخوله .

او چی‌کله به د عمار رض غوندی والی شو، اخلی پخلی به‌یی پرخپلو اوږوؤ . او یا لکه سلمان رضی الله عنه دخپلی رتبی او تولنیز دریځ پرخلاف به کیناستل او د کجورو له پانونه به‌یی کاری‌او توکری‌جوړولی.

رښتیا چی د پیغمبر (ﷺ) او هغه قانون په قرآنی ، چی دوی‌یی وروزل ، د درناوی سرټیټول په کار دی .

په کار ده د هغه خدای (ج) په وړاندی پر ځمکه د ستاینی تندی وسپنل شی چی دوی‌یی په دغسی ښیگړو سره ممتاز او د غوره امت یعنی اسلامی امت مخکښ کړل .

«حذیفه بن یمان رض» چی د زړونو په «ژبه» پوه ؤ حذیفه بن یمان رض»چی دمرگ پربستر د ژوند وروستی شیبی تیرولی ، ورته شاوخوا ناستو مسلمانانو تری پوښتنه وکړه: «که خلکوسره اختلاف وکړ، د چالیار ونیسو ؟»

حذیفه (رضی الله عنه) چی وروستی خبری‌یی پر ژبه وی ، وویل : «د عمار رض له پیروی لاس وانه خلیء؛ ځکه هغه چی ترڅو ژوندی وی ، هیڅکله له حق نه نه جلا کیږی» .

هو عمار رض هیڅکله د حق له محور نه نه‌جاروت ، او دادی د ژوند د ویاړمن کتاب پانی‌یی اړوو ، او د ستر ژوندانه غوره نښی نشانی‌یی څیړو ، راځیء چی د ژوند وروستی ننداری ته‌یی‌ورنژدی شو .

خو له دغی په زړه پوری ننداری سره چی د عمار (رضی الله عنه) د سترتوب ، میړانی ، بشپړتیا ، سرښندنی ، ټینگار او د مقام او فضیلت نښه ده . تر مخامخیدو د مخه یوه بله ننداره چی ترډی لوړی او سریزه گڼل کیږی تر سترگو تیره کړو .

دا پیښه په مدینی ښار کی د مسلمانانو په مشتیدو پسی جوخته چی رسول اکرم (ﷺ) او یارانو او گرانو پلویانو‌یی په مدینه کی د جومات او خدای د کور پرودانو لاس پوری کړ را منځته شوه .

مسلمانان خو طبعاً د جومات په جوړولو کی په خاورو او د ورو ککړیدل ؛ خوزړونه‌یی له نور او ښادی ډک وو او شونډی‌یی د خدای(ج) په شکر او ستاینه لگیاوی .

تول په ډیره خوشالی او امید په چارو بوخت‌وو، له لری ځایه‌یی تیږی راوړلی ، خټه‌یی جوړوله ، په سنده‌یی د دیوالونو پخسی او چتولی ، او ځای‌پرځای به ډله ډله په چارو بوخت وو . کومه سندره به‌یی چی د زړه له کومی په لوړ آواز ویله ، په‌فضا کی‌یی انگازی کولی :

لئن قعدنا والنبی (ﷺ) یعمل
لذاک منا العمل المضلل

ژباړه : که موږ کینو او پیغمبر (ﷺ) کار وکړی ، بدکار به موکړی وی .

دا شعر به‌یی پرله پسی تکراراوه او زمزمه کاوه ، بیا به‌یی په بل آهنگ غږ پورته کړ :

اللهم ان العیش عیش الاخرة

فارحـم الانصار والمهاجـرة

ژباړه: «خدایه! ریښتینی ژوند، خو د اخرت ژوند دی، پر انصارو او مهاجرو ورحمیږه».

بیا به د دریم غږ راپورته شو:

لا یستوی من یعمر المساجدا

یدأب فیها قائما و قاعدآ

ومن یری عن الغبار حائدا

ژباړه: «څوک چې په‌ناسته‌یاولاړه د جومات په‌ورانولو کې برخه واخلي له هغه چا سره هیڅکله برابر نه

د سمیه (رض) شهیدی وضعی، انسانی زړی ته داسی تلپاتی لویښت او پت ورو‌بابښه، چی ځلا به یې هیڅکله تته نشی، داسی وضع چی سمیه (رض) یی د ژوند په تولو د وروکی د با عظمته مسلمانانو او ارځښتمنو انسانانو د مور په توگه وتاکله.

دی، چې ځان له خاورو او دوړونه ساتي».

هغوی تــول د خدای (ج) ښاغلي بندګان او د خدای (ج) د لارې زړه ورسر تیری وو، چې د خدای بیرغ یې پراوړو و، او د خدای کوربې جوړاوه، پیغمبر اکرم (ص) هم له مسلمانانو سره اوږه پر اوږه کار کاوه، او هغه درنې تیږې او دروند کار به‌یې بخپله اوچتاوه.

د مسلمانانو د پاروونکی‌سرو د غږ د هغوی‌د‌ژوری خوشالی ښکارندوی و، داسی یو پاروونکی ننداره یې جوړه کړې وه، تابه ویل چې ګنې ځمکه د ډیرو نیکمرغو اخترونو شاهده او اسمان د ځمکې پردی حال چې داسې ننداری‌یې لرلې، رخه کوکه.

عمار (رض) د خلکو په زوړ کې، درنې تیږې او

هغه تیږې چې پکار وه پرېښودل شوې وای، را اوچتولی، پیغمبر (ص) عمار ولید او سخت پری وویرید، ورغی او پخپل پالنده لاس‌یی د وړه سر او ځان نه ورته وخندلی، بیایی یوه شیبه د هغه پرغلی او با ایمانه صورت سترګی وربخی کړی او ویی فرمایل:

ارمان د سمیه (رض) د زوی دی، چې د ظالمانو تولی

د ثازیالو په ولسوالی کی اسیر روسی عسکر د مجاهدینو په منځ‌کښې لیدل کیږی.

چې خپلې هڅې په کار واچوي، او خپلې وروستی وظیفې هم ترسره کړي. هغه ورځ چې عمار (رض) خپلې چارې په خوشالی او مینه ترسره کړي، هغه وخت

نه و ، چې د جنت له قضا نه یې پرغوړو لګیدونکې
نداء ته په شور و شوق مثبت ځواب ووایي ؟

هو د دغه جنتي بلنې د منلو وخت را رسیدلی و؛ څکه د نیکې بدله بې له نیکۍ نوره څه وی ، په همدې توګه وه ، چې د عمار له لاسه نیزه ولویده او د روح مرغه یې د ستر فردوس په لوروالوڅ . به یې ووژني .

دا اتکل یوځل بیاهم تکرار شو ، او هغه‌هغه مهال و، چې د عمار (رض) دکار ترخنګ دیوال راپریووت، ځینو ګومان کاوه ، چې عمار (رض) وردلاندې شو او مړدی ، مسلمانان په دې پېښه مانیجن شول، یوکس په منډه . رسول اکرم (ﷺ) ته ورغی، چې د عمار (رض) له مرګه یې خبر کړی ، پیغمبر اکرم (ﷺ) په سړه سینه و فرمایل : «عمار نه دی مړ، عمار به‌ظالمانوله لاسه مړی» .

خو دا د ظالمانو ډله څوک وو ؟ او چا او چیرته یې واژه؟ بس را روانې‌پېښې دا خبره روښانولای شي؟

عمار چې د رسول الله (ﷺ) له هراړخیزې پوهې او د وینا له رښتینیو نه خبرو ، دا اتکل‌یې واورید ؛ خو څه ویره او ډاریې زړه.ته ورننه نه وته ؛ څکه هغه چې له کله نه مسلمان شوی و ، هره‌شیبه د مرګ او شهادت په خوله کې و .

میاشتې او کلونه تیر شول ، رسول اکرم (ﷺ) رحلت وکړ ، د حضرت ابوبکر صدیق او حضرت عمر (رض) د خلافت شپې تیرې شوې، حضرت عثمان (رض) هم خلافت ته ورسید.

هو جنت د عمار (رض) د لیدوتږی و، د لیدو دا مینه ډیره زړه شوې وه ؛ څکه عمار (رض) په دې لټه کې و ، مسلمانانو لا د ده پرقبرخاوری اړولې، چې‌سپیڅلی روح یې بیا په جنت په خپل ابدې تاتوبي کې آرام شوی و .

د دغه ستر میړه شهادت په صفین جنګ کې و ، چې د تاریخ پاڼې یې د اتلې شاهدې دي .

د «خالد بن ولید (رض)» او «عمار (رض)» ترمنځ چې کله لاندې باندې پیښې شوې نو رسول الله (ﷺ) وفرمایل : «څوک چې له عمار (رض) سره دښمني وکړي ، د خدای دښمن به وي ، څوک چې له عمار (رض) سره کینه وکړي ، خدای (ج) به پرې په غوسه شي» .

د رسول اکرم (ﷺ) د دې وینا په وړاندې خالد بن ولید (رض) بیله دې بله چاره نه لرله ، چې عمار (رض) ته ورشي او عذر او ښښنه تری وغواړي .

ژباړه : ج- سرفراز

د اسلامي نړۍ پراخ شتون او شتمنیو ته

یوه کتنه

۱ : موقعیت ئې :

اسلامی نړی لکه چې دښمن جغرافیه پوهان وائي«بیابان دی، عایداتی منابع نه‌لری او اوسیدونکی‌ئې ترټولو وروسته پاتی دی». نه بلکې د نړی په مینځ کښې پرته ده . او د نړی ټول ګوټونه‌ئې تر تاثیر لاندی دی و چه او لنده او ټول بندرونه‌ئې ورپوری تړلی دی ، مهم سیندونه پکښې بهیږی . ځمکه‌ئې ترټولو غوره اوله خزانو ډکه ده .

د هند نیمي و چې ته د ننوتلو لاری په اسلامی نړی کښې دی یعنې د ملقا تنګنا په ختیځه برخه‌کی د مالیزیا او سوماترا ترمینځ او د باب المندب تنګنا په لویدیزه برخه کی چې د دی دوارو لیارو په وسیله په نړیوالو بحری سفرولو واک پیدا کیدای شی اوهم د بحر متوسطی‌لاری په اسلامی نړی کښې دی ، په‌دی معنا چې په ختیځ کښې د سویز کانال او په لویدیځ کی د جبل الطارق‌تنګنا سپینه بحیره خو څه وخت ټوله د مسلمانانو په واک کښې وه او اوس‌ئې هم شرق او جنوبی څنډی د مسلمانانو په لاس کښې دی توره بحیره ، مړه بحیره او سره بحیره اوس هم‌که اسرائیل نه وای ټولی په اسلامی نړی کښې پرتی دی .

د نیل ، دجلی ، فرات ، سند ، نیجریا او نور لوی ، لوی سیندونه ټول په اسلامی نړی کښې بهیږی .

اسلامی نړی له لویدیځی خوا د ۱۸ طول‌البلد څخه د افریقا له څنډو د اطلس تر غاړو پیل کیږی او له ختیځ پوری تر سینکیانګ (چینی ترکستان) او پاکستان پوری چې د طول البلد په (۹۰) درجو کښې واقع دی اوږده پرته ده چې پدی حساب د اسلامی نړی اوږد والی (۱۰۸) درجی دی .

خو پلن والی‌ئې له شمال څخه د ترکستان له ساحو چې په (۵۰) درجو عرض‌البلد کی واقع دی پیل ، او د عرض‌البلد تر (۱۰) درجو پوری چې د استواء د خط په جنوب کی واقع دی رسیږی ، د اندونیزیا جزیری هم پکښې شاملی دی ، او افریقا د استواء د خط تر جنوبه پوری آن د صومال ترڅنډو ټوله اسلامی لړی ده پدی برخه کښې‌دعغه عالم وینا کفایت کوی چې وائی :

«که ټوله لړی په دایروی شکل رسم شی نو مکه مکرمه بیا په خاص ډول د کعبې پاکه خونه‌ئې په مینځ کښې پرته ده» .

نوځکه ویلای شو چې اسلامی نړی‌ء د جغرافیا له مخی د ټولی نړی مینځ لدی امله ده چې اسلامی نړی‌ء د موقعیت او استراتیژی له مخی د نړی له بل‌هرځای‌څخه غوره‌او او چت ارزښت لری .

۲- طبیعی منابع ئې :

طبعی منابع عبارت دی له :

هغو عناصرو څخه چې د ځمکی کلک مخ او یا په بل عبارت د ځمکی پاسنی سخت پوټکی تری جوړیږی .

له هغه عناصرو څخه چې د ځمکی د مخ هغه پوښ تری جوړیږی نباتی د یا حیوانی وجود ورپوری اړه لری .

او له هغو عناصرو څخه چې د اوبو او هوا د پیدایښت او کیفیت په برخه کښې نقش لری .

د ځمکی په سخت پوښ کښې :

طبعی خزانی ، خاوری ، او ژوری او پرتی دی .

په نباتی او حیوانی برخی کښې ټول نباتی کښتوله شامل دی چې په طبعی ډول را ټوکیدلی او یا کرل شوی دی او هم هغه حیوانات چې د ځمکی پهمخ ژوند کوی .

د اوبو په برخه کښې ټول بحری ژوندی موجودات لکه ماهیان اولور شامل دی او

هم هغه مالګین معدنونه چې د سیندونو په ژورو برخو کښې پراته دي ، د هوائی برخې څخه ټول هغه عناصر مراد دي چې د هوا د کیفیت په تغیر کښې رول لري . لکه حرارت ، روښنائی ، بارانونه او نور ...

پورتینو شیانوته ترهغې چې په کار له وي، اچول شوي او یا تری ګټه نه وي لیدل شوي اقتصادي منابع نشي ویلای ، لکه سکاره ، پټرول ، او شمسي طاقت اوپاداسې نور ترڅو چې د استفادې او ګټې اخیستلو کیفیت ئې له وه واضح شوي اقتصادي‌منابع نه ګڼل کیده او نه‌ئې د طبعي خزانوپه‌کتار کښې چانوم اخیسته لوځکه موږ کولای شو چې طبعي منابع په لاندي‌برخوویشو :

۱- هغه منابع چې له مینځه له ځي .

لکه شګې او کالکریت .

۲- هغه منابع چې هر وخت بدلیږي .

لکه د ځمکې نباتي پوښې .

۳- هغه منابع چې په اسانه توګه له مینځه ځي .

لکه پټرول او نوري خزانې .

تل پاتې خزانې :

هغه عایداتي منابع چې له مینځه نه ځي په اسلامي نړی کی‌ئې زښته زیاته برخه‌شته .

د سوډان لویې اوو چې دښتې ، د لیبیا ، عراق او نورو اسلامي هیوادونو پراخې‌لمنې، د عربي و چې نه‌خلاصیدونکې اوږدي اوپلنې دښتې او د نوري اسلامي نړی پراخو ځمکو اسلامي نړی، د نه تمامیدونکې عایداتي منابعو له لوري خورا پیاوړی کړی ده .

بدلیدونکې خزانې :

په اسلامي نړی کښې‌هومره زراعتي‌توانائی شته چې که په رښتیني ډول په کارواچول شي نو هیڅ امکان نلري چې اسلامي نړی دي له غربي او یا شرقي بلاک څخه اړن د پوی داني غلې را واردولو ته هم اړتیاو لري .

څکه هغه اسلامي نړی چې د (نیل : دجلې ، فرات او سیند ....) په شان څپانده سیندونه او حاصل ورکوونکې ښکلې ځمکې ولري چیری اوولی به چاته لاس‌نیسي ؟

دا فقر او بې توانائی چې اوس پکښې واکمنه ده ، په اسلامي نړی په زور تپل شوې ده .

په پاکستان ، سوډان ، عراق ، لیبیا ، مصر او په عربي نړی کښې په میلیونوجریبه زراعتي ځمکې دغلو دالو راتوکولو ته‌وږده. پوازې او پوازې هغه لاس ته اړتیا لري‌چې وائې روی ، او تخم وروا چوي .

تاریخي خیړنې ثابتوي چې د اسلامي نړی نن و چې څه سوده پخوا کرل کیدې خو د مسلمانانو د ناپوهې اولټي په نتیجه کښې د اوبو د نه رسیدلو له کبله و چې کلکې اوشاړې شوې ، نني و چې مصر دروماليانو په دورو کښې تقریباً په سلوکې لوی برخې کرل کیده او حاصلات‌ئې ورکول‌خودوختونو په تیریدلواو د کارګر لاس د لشتوالي‌له‌کبله مخ په وچیدو شو أن تردې چې نن‌سبا خو پوازې‌په‌سلو کښې‌پنځمه برخه‌زراعتي اوسلوکې ۹۰ برخې دښتې ، او شاړې دي ، هیڅ ګټه تری نشي اخیستل کیدای او نه څه‌حاصلات‌لري.

له مینځه تللونکې خزانې :

لکه پټرول او معدنونه

پدې هکله باید لاندې معلومات په غور ولولو :

الف : په ننی دنیا کښې پټرول دتوانائي لومړنی او اساسي منبع ګڼل کیږي چې‌اسلامي نړی د ټولې دنیا (۳۰،٦) فیصده برخه تیل لري ، او په دوهمه درجه کښې د امریکا متحده آیالات تیل‌لرونکی هیواد دی، امریکا په سلوکښې (۲۹،٦) برخې تیل لري ، دا هغه برخه ده چې اوس‌تري‌کاراخیستل کیږي. او هغه چې لاتراوسه په کار نه‌دي اچول‌شوي لو اسلامي نړی د ټولې دنیا (٦۹،۳)فیصده تیل لري .

پورتنې معلومات پوازې د هغو تیلو په باره کښې دي چې تراوسه‌ئې دکشفیدلو اعلان شوی دی ، خوکه هغه تیل چې لا تراوسه د اسلامي نړی د خاورو لاندې خپې وهي ، او امریکائې او غربي شرکتونه چې په اسلامي نړی‌کی دتیلو راویستلووظیفه په غاړه لري ، نه غواړي چې همدا اوس ، اوس‌ئې راوباسي ، او شاید د مناسب وخت په انتظار کښې وي .

نوکه دا پټ تیل هم‌حساب شي‌لوویلای شو چې اسلامي نړی به د تیلو پەلرلوکښې لوړی درجې ته ورسیږي .

مونږ په خپل مسئولیت اعلانووچې مصر اوس د تیلو په بحیره کښې لامبووهي پدې معنا چې شمال او جنوب لورته‌ئې د تیلوخورا زیاتې ذخیرې موجودي دي خو امریکائې او نور غربي شرکتونه نه غواړي چې په اوس وخت کښې‌ئې راوباسي ؛ څکه دوی اوس غواړي پوازې د خپلو ضرورتونو او اړتیاوو په اندازه راوباسي اوبس .

ب : نور معدنونه :

پدې لړکې ترټولو مهم‌ئې چې په صنعتي کارونو کښې استعمالیږي ، او سپنه او لرګی دي ، چې په مالیزیا ، الجزائر ، توانس ، ترکیې ، مصر او په نورو اسلامي هیوادونو کښې‌ئې خورا زیاتې خزانې په پوره اندازې پرتې دي ، خو نړیوال احتکاري قوتونه ، نه غواړي چې ټول‌ئې‌په‌یوځل مینځ ته‌راوباسي. ترڅو د پوی خوا د اسلامي نړی پټ معلومات پوازې لدوی سره پټ پاتې او له بلې خوا په مناسب وخت کښې چې ګټې‌ئې تأمین شي تري کاروا خلي .

او :

قیمتي معدنونه لکه زر ، الماس‌اویورانیوم د اسلامي نړی په خاورو کښې له حد له زیات موجود دي .

که د دغو خزانو لرونکو هیوادولو

د داوړ معدنونو په نشتوالی تینګار نـه وای کړای ، نو ما به‌ئی پوره تفصیل او انـدازه تشریح کړی وای .

برسیره پرتیلو د توانائی نور منابع :

زموږ په خاوره کښې د اوبو خورا غوره اوښه څرو بی دی چی بریښنا تری تولیدیدای شی ، طبعی‌ګاز او غوړی هم ښه زیات‌لرو . او په اسلامی نړی‌کښې داسی تـوانائی هم شته چی تـراوسـه لا تـری کارندی اخیستل شوی په داسی حال کی چی بی له اسلامی نړی څخه نوره دنیائی ډیره کمه برخه لری او دا توانائی لمردی .

اوسنی نوی علمی څیړنی وائی چی که له لمرڅخه غـوره او مناسبـه استفـاده وشی نو کیدای شی چی د توانائی خـورا ستره‌منبع و ګــرځی -

د تولید وسایل :

تولید دریو څیزونو ته ضرورت لری :

۱- بشری قوت .

۲- خام مواد .

۳- سرمایه .

که اسلامی نړی و توانیدای شی چی په خپلو مینځونــو کښې نـاروا مسلط شــوی سرحدات کم تـر کمه د یـوځل لپاره هم له مینځه یـوسی نــو د نــړی پرمخ بــه په خورا لوی اقتصادی قوت بدله شی .

څـکه :

